# زېرې

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

پنجشنبه (۹- ۱۲ مه) گڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۴۰۱- ۴۰۴مه) گڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د وږي (سنبلې) مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال د صفر د مياشتې ۲۵مه او د ۲۰۲۲ز.کال د سپتمبر ۲۲مه


خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ

تاسې کې غوره او بهتر هغه څوک دی چې، قرآن زده کړي او نورو ته يې هم ور زده کړي.

(بخاري او مسلم)


څېړنپوه دوکتور سيدنظيم سيدي


## د ارمانښار يا ايډيالي نړۍ ادبيات (فاضله مدينه)

ارمانښار يا ايډيالي نړۍ ادبياتو ته په انگريزي کې Utopian Literature وايي. ادبپوهان دا هغه ادبيات بولي چې ايډيالي نړۍ يا ارمانښار انځوروي. په يوناني ژبه کې اتوپيا له دوو برخو څخه رغېدلې چې يوه يې «او » ده د هېڅ او نه په معنا او دويمه يې »توپو «ده چې د ځای او مکان معنا ښندي او په ټوله کې د هېڅستان او هېچېرته آباد په معنا دی، خو په دانشنامه آزاد کې يې په اړه لولو: " Utopia اصلاً لاتيني کلمه ده او معنا يې »هغه ځای چې موجود نه وي «يا» هېچېرته آباد»ده. اتوپيا ترکيبي کلمه ده چې له ou (او) د نفي په معنا او Topos (توپوس) د ځای په معنا ده چې utopia په لغوي معنا د «بې ځايه / مکانه » معنا ښندي." (۱)د ناپرليکه يا ليکوتي پښتو ډيکشنرۍ کې يې په اړه لولو: "Utopia خيالي ټاپو، خيالي نړۍ، يو داسې خيالي ټاپو چې په (۱۵۱٦) ع کال کې سرټامس مور د افسانې په توگه انځورلی او په هغې کې يې اجتماعي نظام په خاص ډول کامل ښوولی دی، داسې ښکلی ځای چې په خيالونو کې وي، مگر په واقعي ډگر کې نه وي." (۲)که پورته خبرې ته ځيرنه وشي، نو له دوو خبرو سره مخامخېږو، يو هېڅستان يا هېچېرته آباد او بل خيالي ټاپو يا خيالي نړۍ چې دا دواړه حقيقي نه دي او دا د ډېرو انسانانو ځانگړنه هم ده چې په خيالي نړۍ او موهوماتو پسې يې مټې رانغاړلې وي، لکه واخله آب حيات، د دايمي ژوند ماده او داسې نور او يا هم د داسې معنوي او مادي ځواک په لټه کې وي چې يوازې يې ليدل او اورېدل شونې وي، خو په حقيقي نړۍ کې نه وي او يا يې هم يوه برخه شونې وي، خو انسان به يې غواړي او په هڅه کې به يې وي، چې دغه مسأله ارمانښار يا خيالي ښار په ادبياتو کې ښه انځورېدلی شي. دغه ډول خبرې او تعبيرونه ډېر ځله لوستونکي له ناسم پوهاوي سره مخامخوي او ځينې يې داسې فکر کوي، چې گواکې ارمانښار ادبيات په ټوله معنا په خيال کې داسې ډېزاين شوی ښار دی چې موږ ته په واقعي نړۍ کې څه نه راکوي او پالل يې موږ له رواني ناروغيو سره مخامخولای شي، په داسې حال کې چې حقيقت داسې نه دی. ادبپوهان وايي د ارمانښار ادبياتو معنا دا نه ده چې په ټوله معنا دې موهومي، د خيالي نړۍ خبرې او کيسې وي، بلکې غايه او موخه يې سوبتيا، خوشحالي او سعاد ته رسېدل دي، د ابوالنصر فارابي په وينا سعادت يا خوشحالي مطلق خير دی او خير بيا هغه دی چې په وسيله يې انسان نيکمرغۍ ته رسېږي. د نوموړي له نظره د سعادت معنا يوازې په دې نړۍ کې خوشحالي نه ده، بلکې هم په دې نړۍ کې د هر ډول خوشحاليو ټېکاو دی او هم په هغې نړۍ کې پر همدغه ټېکاو د زباتونې او مضبوطونې مهر لگول دي، چې دا چار د انسان په هستېدو پورې هم اړه لري؛ په دې معنا د انسان د خلقت فلسفه هم انسان ته خوشحالي ورکول دي، خو اړينه دا ده چې نوموړی باید لومړی خوشحالي یا سعادت وپېژني. (۳)نو د فارابي نظرياتو ته په کتلو سره د انسان لپاره تر ټولو مهم ارزښت هغه ته خوشحالي او سعادت ورکول دي چې دغه تومنه په نورو علومو او فنونو کې په دې ډول نه شته، نو ځکه وايو چې ارمانښار يا خيالي نړۍ په ټوله معنا هېڅستان نه دی، بلکې ډېرستان يا موجودستان دی چې درک يې فلسفي پوهه او ادراک غواړي. که پر دغه ارزښت بسنه وکړو، نو د دغه ډول ادبياتو مخينه د مخزېږد دوه زره کاله وړاندې ته رسېږي او بېلگه يې د نړۍ تر ټولو لرغونې افسانې يا حماسې گېلگمېش کې وينو، چې خپله گېلگمېش د ځوانېدلو او د ملگري انکېدو ژوندي کېدلو په خاطر آن تر خارق العاده انسان اوتناپيشتم پورې ځان رسوي او له هغه نه يې حل غواړي : "اُوتناپيشتم گېلگمېش ته وويل: زه تا ته څه شی درکولی شم چې بېرته خپل ټاټوبي ته ستون شې؟ زه به تا ته داسې شی در وښيم چې يو راز دی، هلته د اغزي په شان يو بوټی دی او د هغه بوټي اغزي به د گلاب په شان ستا په لاس کې اغزي شي، هغه بوټی د اوبو لاندې دی، که هغه دې ترلاسه کړ، يو ځل بيا به ځوان زلمی شې.گېلگمېش چې دا واورېدل، Apsu خوا ته لاړ، درنې تيږې يې په پښو پورې وتړلې. هغوی گېلگمېش لاندې Apsu خوا ته بوت او بوټی يې را واخيسته، په لاس کې يې اغزي لاړل، درنې تيږې يې له پښو څخه لرې کړې او معجزه ډوله گل يې ترلاسه کړ. گېلگمش اورشنابې ته يې وويل: اورشنابې، دا بوټی د مرگ او زوال پر خلاف دی!، د دې بوټي سره يو سړی له مرگه خلاصېدای شي! زه به دا بوټی د اُوروک Uruk کوټ ته يوسم او يو زاړه سړي ته به يې ورکړم چې ويې خوري او ماته تجربه شي. د بوټي نوم دی زوړ سړی ځوانوي. بيا به يې زه وخورم او يو ځل بيا به د ځوانۍ ټاپي ته ور وگرځم، غواړم ټولو پهلوانانو باندې يې وخورم.ځلوېښت ساعته پرمخ ولاړل، يو ټاپو يې وليده، دېرش ساعته وروسته يې دمه وکړه، گېلگمش ډنډ وليده چې سړې اوبه يې بهېدې، ځان يې ور واچوه او په سړو اوبو يې ځان ومينځه، مار د بوټي خوږبويي حس کړه، په ورو راغی، بوټی يې وخوړ، پوستکی يې وغورځاوه او بېرته ځوان شو.... " (۴) په دغه بېلگه کې د خيالي نړۍ اسباب په ښکاره ليدل کېږي، انسان يې خارق العاده دی، له عادي حالته پورته ځواک لري، بې له دمې ځلوېښت ساعته مزل کولای شي، د مړو د ښار ارواگانې را غوښتلای شي او بالاخره اب حيات يا هغه پديده چې دلته د گل يا بوټي په بڼه ده پيدا کوي، خو وړاندې تر دې، مار هماغه بوټی له ستونې تېروي او د ده په مخ کې پوستکی غورځوي او ځوانېږي چې دغه کار د انسان د خيالي نړۍ د مادې پر شتون د زباتونې مهر لگوي، نو ځکه ويلای شو چې په ادبياتو کې د خيالي نړۍ مخينه آن د مخزېږد پېړۍ زرگونو کلونو ته رسېږي. ادبپوهان وايي که په دې او دې ته ورته اسطورو او حماسو کې د ارمانښار ادبياتو له نامستقيمو بېلگو را تېر شو، نو افلاطون او ارسطو په ځانگړې توگه افلاطون يوازنی انسان و، چې د خيالي نړۍ ادبياتو بحث يې په جدي توگه مطرح کړ او د خپل اثر جمهوريت په پاڼو کې يې خيالي نړۍ چې په اسلامي فلسفه کې ورته فاضله مدينه وايي، ته زياته پاملرنه وکړه. سرمحقق سيد امين مجاهد همدې موضوع ته داسې نغوته کوي: "د افلاطون د جمهوريت منځپانگه اصلاً فاضله مدينه ده او دا هغه خيالي ټولنه ده چې د ليکوال د خپل فکر او تخيل ترسيم او محصول ده. داسې يوه خيالي ټولنه

۲مخ


څېړنپوه مولاجان تڼيوال


## نړۍ والې ژبې (دويمه برخه)

له هغه څه چې مخکې نغوته ورته وشوه دا په لاس راځي چې د هغو انسانانو تر منځ چې په بېلابېلو ژبو خبرې کوي د اړيکو د پرمختگ سره يو ځای دا اړتيا هم را پيدا شوه تر څو د پوهولو را پوهولو يوه شريکه وسيله پيدا کړي. په اوسني وخت کې د تمدن پرمختگ، پرله پسې سفرونه، بې عيبه ترافيکي وسيلې، د دولتونو تر منځ د ډول ډول اړيکو چټکتيا، ټېلفون او تلگراف د دې باعث شول چې د پوهولو را پوهولو امکانات اسان شي. له دې امله دا ربړه را وړاندې کېدای شوه تر څو د پوهولو را پوهولو يوه نړۍ واله وسيله پيدا کېدای شي؛ يوه داسې يواځېنۍ مرستندويه ژبه چې د مختلفو موخو له پاره وکارول شي. د يوې نړۍ والې ژبې په توگه د دې ستونزې حل د يوې مصنوعي ژبې په ايجادولو او يا هم د يوې مړې او يا طبعي ژوندۍ ژبې په پراختيا کې ولټول شو. د مصنوعي ژبو ايجادول تر پای پورې درې پړاوونه لري:

۱ - د داسې فلسفي ژبو ايجاد چې د طبعي ژبو سره شراکت نه لري.

۲ - د داسې ژبو ايجاد چې د لومړي Typ لپاره د طبعي ژبو ځينې خاصيتونه او ټاکلي عناصر ښکاره کوي.

۳ - د داسې ژبو ايجاد چې بنسټ يې طبعي ژبې وي.

موږ دغه ژبې په لاندې لړۍ کې گورو:

Descartes ډېسکارتېس فيلسوف د لومړي شخص په توگه د فلسفي ژبو پروگرام فرمول بندي کړ، نوموړي د مفاهيمو او اعدادو په منځ کې برابري Analogy (يوناني - لاتين نومونه ده) ترتيب کړه، په دې توجه سربېره چې د خلکو او ولسونو اعداد يا د اعدادو ترکيبات رښتيني دي نوموړی دې ته هم ور نېږدې شو چې د وييونو لپاره د اړيکو مشخص سيستمونه د توريو د ترکيباتو په وسيله رامنځته کړي، د افکارو لپاره يو داسې نظم او ترتيب لکه د اعدادو لپاره چې ټاکل شوی دی تعين کړي:

لکه چې په يوه ورځ کې د اعدادو په باره کې معلومات په بې بريده ډول زده کېدای شی بايد چې

۲مخ


ليکوال: ولي محمد سيال کاکړ

ژباړن: بشرمل زرغون


## د غلجي قبيلې د «نسبنامې» رسالې لنډه پېژندنه

**غلجي، خلجي او يا غلزي يو د پښتنو له قبيلو څخه شمېرل کېږي، دغه غوره او تاريخي قبيله د پښتونخوا په ټوله څمکه په ځانگړې توگه په نني افغانستان کې مېشته ده، مؤرخينو او ليکوالو د دې قبيلې په باره کې نوموتي کتابونه ليکلي دي چې يو له دغو تاريخي آثارو څخه »د غلجي قبيلې نسبنامه «هم ده، دغه ارزښتمن او بډايه اثر عرفاني شخصيت او غوره ليکونکي ارواښاد ميا عبدالحکيم کاکړ په پارسي ليکلی دی؛ البته دغه ورکه خطي نسخه د ليکوال او څېړونکي حبيب الله رفيع په کتابتون کې خوندي ده او دغه زيارکښ ورور «ښاغلي رفيع»د دغې نسخې يوه کاپي ماته را ډالۍ کړې او دغې بډايې ډالۍ زما کتابتون ته ډېره ښکلا وربښلې ده.**

**د دغې ناچاپه نسخې ليکوال ميا عبدالحکيم کاکړ د ميا سکندرشاه زوی، د کندهار د هوتکو په دوره کې د پښين په ښار، د خانوزايي په سيمه کې دې نړۍ ته سترگې پرانېستې دي، دغه ستر شخصيت د کاکړو د ډيوډزايي، شموزايي، سنتيايي له قبيلې څخه دی، نوموړی منځوی زده کړې د کاکړستان په سيمه کې پای ته رسولي، ورپسې د لوړو زده کړو لپاره کندهار، ننگرهار، پېښور او لاهور ته تللی، ده چې کله عرفاني او تصوفي لړۍ د وخت له عرفاني شخصيتونو: ميا سيد لعل جيو ننگرهاري، حضرت ميا عبدالغفور پېښوري او ميا حافظ الله يار لاهوري سره تېره کړه؛ نو بېرته کندهار ته راغی چې په زرگونو خلک يې په عرفاني لړۍ کې گډ(شامل) شول؛ البته دغه بزرگ شخصيت په خپل پلرني ټاټوبي د شاه حسين هوتک په دوره کې بيا پاتې شو او کله چې ميا عبدالحکيم کاکړ ومړ؛ نو د «تل چټيالی » په خاورو کې ښخ شو.**

ميا عبدالحکيم کاکړ څو آثار ليکلي دي چې له بده مرغه ځينې يې له منځه تللي دي؛ البته معلوم کتابونه يې دا دي:

**۱. حِصن الايمان**(په پارسي، د عقايدو په باره کې).

**۲. رسايل حکيميه** (پارسي).

**۳. رسالهٔ عرفاني** (پارسي) چې زما په کتابتون کې خوندي ده.

**۴. او همدغه د غلجي قبيلې د نسبنامې رساله.**

ياده رساله چې د عرفاني نړۍ ستر شخصيت ميا عبدالحکيم کاکړ په پارسي ژبه ليکلې؛ پنځه دېرش مخه ده، خطاط دغه رساله په وړو ټکو په ښکلي خط ليکلې او په هر مخ کې ديارلس کرښې چې درې کرښې په لښتليک(جدول) کې راوړل شوې دي، د دغې رسالې ليکونکی څنگه چې پښتو ژبی و؛ نو په همدې اساس د هغه وخت د دري د اغېز له مخې يې دغه رساله خلکو ته د گټې اخيستې په پار کښلې ده، ده په دغې لنډه رساله کې د ټبر او د غلجيو د بېلابېلو قبيلو په اړوند، په ځانگړې توگه د افغان پادشاهانو په اړه چې په هند او افغانستان کې يې تر ډېره حکمراني درلوده؛ په ډېره ساده، روانه او د دري ژبې گړدود ته ډېر نږدې يې لنډه يادونه کړې ده، د بېلگې په توگه په دغې لنډه رساله کې د «سوري شاهانو، لودي شاهانو، توخي اميرانو او هوتکي شاهانو»يادونې راغلې دي.

ميا عبدالحکيم کاکړ خپله کوچنۍ رساله د «د غلجي قبيلې نسبنامه » نومولې ده، نوموړي دغه رساله د شاه حسين هوتک په دوره کې ليکلې او راتلونکو نسلونو ته يې د نښې په توگه پرې ايښې ده، دا چې ياد ليکوال دغه خپله رساله د »و به نستعين رسالهٔ نسب نامهٔ غلجي «په سرليک او له »بسم الله الرحمن الرحيم «وروسته دا ډول پيلوي: «له عقلمنو او هوښيارو دې پټه نه وي چې غلزي د شاه حسين له پښته دي او شاه حسين د غور له شهزادگانو څخه و چې د نسب لړۍ يې په يوه روايت د کيان پادشاهانو ته رسېږي او په بل روايت حضرت امام حسين بن علي رضی الله عنهما ته رسي، والله اعلم بالصواب».

دلته بايد وويل شي چې ميا عبدالحکيم کاکړ له کوم دليل او کره سرچينې پرته د تېرو مؤرخينو باطله نظريه يو ځل بيا تکرار کړې ده چې له تاريخي حقايقو او ډاډمنو سرچينو سره هېڅ اړيکه نه لري، په دې باره کې معاصرو افغان مؤرخينو په ډېرو کره دليلونو او تاريخي اسنادو د يادو مؤرخينو او ليکوالو دغه بې بنسټه نظريې رد کړې دي چې همدغو په تېرو او راتلونکو وختونو کې د غلجيو، خلجيو او غلزيو د بې بنسټتوب په هکله له تعصبه ډک ناعلمي آثار کښلي او بيا يې پکې بېکاره او ناچلېدلي دودونه رااخيستي چې له علمي اصولو او څېړنو سره هېڅ اړيکه نه لري.

ميا عبدالحکيم کاکړ د رسالې په پای کې دا ډول ليکي: ((اوصاف حميدهٔ شيرشاه از حد بسيار است، بقلم نه می گنجد، بر همين اختصار کردم تا يادگاری در جهان باشد، شکر الحمد لله، که رساله به تمام رسيد و مؤلف اين رساله ملا عبدالحکيم کاکړی است، بموجب ارشاد فيض بنياد عمدهٔ زمان قِدوهٔ اقران، منبع الجود و الکرم، مجمع مکارم، شيم محب العلماء و الفقراء، معين اهل اسلام، معلی جناب عبدالعزيرخان غلجي توخي محمدزي برهان خېل که از قندهار بقصد سپهه گری به هندوستان آمده بود و در هندوستان به مرتبهٔ اميری رسيده بود، جندگاهٔ نايب دارالسلطنه لارډ (Lard) از کمال دينداری و محبت علم در لباس اميرانه هميشه خدمت علماء و فقراء بذات خود می کرد و هر افغان که از ولايت به هندوستان می آمد؛ از نوازش او محروم نه می رفت و در سخاوت و شجاعت و پيروی شريعت بی نظير زمانهٔ خود بود؛ چون صحبت علماء و فقراء حقانی بروی اثر کرد، اميری را ترک کرده، عمر خود را در ذوق مطالعهٔ کتب دينی و مراقبهٔ اسرار الهی صرف می گردانيد، تمت تمام شد نسب نامهٔ فرقهٔ غلجي».

په اخره کې له «د غلجي قبيلې نسبنامې رسالې»څخه د ميا عبدالحکيم کاکړ د نثر بېلگه گرانو لوستونکو او څېړونکو ته وړاندې کېږي: «فصل در بيان بادشاهان و سرداران که از اولاد غلجي گذشته اند و آن همه در ميان دو فرقه »توخي و هوتکي « بودند، اول سرداری تمامی غلجي در خانهٔ سلطان ملخي نواسهٔ (نوه) محمد ولد توخي بود و قسمت املاک و جاگيرات مابين فرقهٔ غلجي همه سلطان ملخي محمدزي کرده بود و در عهد خود هيچ کس مدعی سرداری شريک نه داشت و تمامی اولاد غلزي چه از ابراهيم و چه از توخي و چه از هوتک و چه از غيرهٔ افغانان غرغشتي و سړبني، فرمانبردار سلطان ملخي بودند، قريب پنجاه هزار خانه در حکم لايق بادشاهی بود؛ اما دعوی بادشاهی نه کرد، چون سلطان ملخي از دار فانی به دار باقی خراميد؛ قايم مقام وی حاجي ايدل که از فرزندان کلان سلطان ملخ بود، به سرداری تمام غلجي مقرر گشت و تا حيات حاجي ايدل هيچ اميری از اميران فرقهٔ غلجي سر از اطاعت وی نه گردانيد و تمام غلجي بر وی متفق بودند؛ چون حاجي ايدل و ديعت حيات سپرد و از جهان فانی رحلت نمود؛ دعوی اميری و سرداری غلجي حاجي ميرويس کرد که خواهرزادهٔ حاجي ايدل بود و ميرويس از اولاد حسين ابن ملکيار ابن هوتک بود...».

په پای کې بايد ووايم چې د «غلجي قبيلې د نسبنامې رساله» د علم او ادب نړۍ ته د ړومبي ځل لپاره ورپېژندل کېږي، په دې اړوند زه له خپل گران ورور ښاغلي استاد رفيع نه د زړه له کومې مننه کوم چې نوموړي يوه لورېينه وکړه او ماته يې اجازه راکړه چې د »غلجي قبيلې نسبنامې رساله «خطي نسخه تاسې ته دروپېژنم، د يادې نسخې د پېژندنې په اړه يې بشپړه اجازه راکړه، کور يې ودان او دی دې تل خوښ اوسي.


صديق الله بدر


## ډرامه څنگه وليکو؟

ډرامه هم کيسه ده، خو ډرامه معمولا د اجرا کولو لپاره ليکل کېږي‌او کيسه د لوستلو لپاره. په کيسه کې ډېر څه توصيفېږي او په ډرامه کې په خبرو اترو يا عملونو کې وړاندې کېږي.

ډارمه ليکونکي؛ په عيني او عملي ډول خپل متن د صحنې پر مخ د ليدلو، ترسره کولو او انځورولو لپاره ليکي.

مکالمه يا ډيالوگ د ډرامې اصلي برخه جوړوي او له دې کبله په کار ده چې ښه استحکام ولري، څکه کېدای شي له يوې وړې تېروتنې سره دړې وړې شي. د ډرامې ديالوگونه معمولاً لنډ او ساده وي، اوږده او پېچلي الفاظ د ډرامې د هدف د ښه درک کولو خنډ گرځي. ادبپوهان د ډرامې د ډيالوگونو پر خوږوالي او محاوروي انداز ټينگار کوي، خو په ډرامه کې تر هرڅه لومړی طرح يا پلاټ مهم توکی گڼل کېږي.

د ډرامې طرح؛ د متن د اساسي پيکرې سکلېټ دی. هرڅومره چې طرح قوي وي په هماغه اندازه په لوستلو او اجراء کولو کې د متن کاميابي تضمينېږي. ليکوال بايد د طرحې د قوت لپاره په طرح کې د علت او معلول اړيکي، د طرحې او په ډرامه کې د موجودو عناصرو فني جوړښت، د صحنو ترکيب بندۍ يا د پېښو رامنځته کولو، کرکټرکښلو او د ژبې ټاکلو ته توجه وکړي.

کله چې د يوې ډرامې لپاره مو خپله طرحه چمتو کړله، په کار ده چې د هغه داستان لکه د يوه واقعي تمثيل يا اجرا لپاره پخپل ذهن کې پلي کړو.

طرحې ته د ډرامه يي جوړښت ورکولو لپاره بايد ځينې مرحلې عملي شي. ډرامه ليکونکي په دې نظر دي، چې دغه طراحي له يوې مقدمې سره پيلېږي او له کرکټرکښنې، غوټه ورکولو، تلوسې، ټکر او اوج سره پر مخ ځي او له يوې پايلې سره پای ته رسېږي.

**مقدمه:** ليدونکو ته د لومړنيو معلوماتو ورکول، د ډرامې مقدمه يا سريزه ده. په پښتو ادبياتو کې دې مقدمې يا سريزې ته پېژندگلوي هم وايو. کله کله دغه مقدمه له يوې پېښې سره پيلېږي او دا هغه څه دي چې د ليدونکو حس ته ټکان ورکوي او هڅوي يې چې ټول داستان ولولي، خو په مقدمه کې نبايد داستان د ډرامې د افشاء کېدو سبب وگرځي. که څه هم کله کله له دې وېرې يو شمېر ليکوال له مقدمې صرفنظر کوي، خو دا کار سردرگمي هم رامنځته کوي. پخوا دود داسې و چې راوي به د داستان د مقدمې يوه برخه ويله او بيا به يې د دې

۲مخ


گل رحمن رحماني


## د سالک نثر

مصطفی سالک د پښتو ادب د هسک هغه ځلانده ستوری دی چې نږدې دوه نيمې لسيزې د ادب او ژورناليزم په ډگر کې روښان او روان پاتې شوی او په دواړو برخو کې يې پر خپله ژبه د ډېرو ارزښتمنو اثارو لورېينه کړې ده.

که څه هم زما په گډون ښايي گڼ لوستونکي هغه د يوه ډېر لوړ ذوقه او داسې شاعر په توگه وپېژني چې يوازې د شعور د جزيرې نه، بلکې د لاشعور د نړۍ ژورې تجربې يې هم په شاعرانه رنگ کې رنگولې او تصوير کړې دي، خو نوموړي په «پاتې شه باران دی»او «د اوښکو موسکا»کې راته دا هم ثابته کړه چې ښه او د پاخه نثر ليکونکی هم دی، حتی دا دواړه اثار يې تر ننه هم د زلميو ليکوالو لپاره د ليکنې الهام ښونکي دي، ځکه چې د ليکوال اوچت شاعرانه مزاج، فلسفي ليد او د الفاظو پر لښکر هنرمندانه واکمني د هغه د بډای تخيل او عالي فکر بيان کې کله هم د ابهام په لومو کې نه دی بند شوی او ليکوال ته يې ځانگړی نثري سبک او اسلوب ور په برخه کړی دی.

د ادب او ژورناليزم په ډگر کې فعال کسان يا داسې دي چې ادب ته يې د ژورناليزم سبک او بيان را لېږدولی او يا هم په ژورناليزم کې ورڅخه کټ مټ ادبي ژبه کارول شوې ده، خو ما چې څومره د سالک ليکنې لوستې او اورېدلې دي، د دواړو تر منځ د توازن ځانگړی هنر لري او ژورنالستيک راډيويي متنونه يې هم د مسلکي جواز تر بريده د ادبي ژبې د تجربو پر مټ ښکلي کړي او حتی ابدي کړي دي، د بېلگې په ډول يې «د عشق لمر» گډ اثر وړاندې کولی شم. دلته غواړم د هغه پر نثري ښکلاوو خپل يو څو يادښتونه له لوستونکو سره شريک کړم او استناد به مې هم تر ډېره د هغه يو بل اثر «له ځاځکي تر سېپي» وي چې د ادبياتو، په ځانگړي ډول د شعر په اړه دی او محتوا يې هم د نوم په څېر ښکلې ده. له مخکې مې چې يادونه وکړه د سالک نثر هم شاعرانه کيفيت او خوږلښت لري، دا خوږلښت له تصويري بيان، لنډو جملو، استدلال، پر ځان باور، مکالمو، مثالونو، پرېکنده بيان او غوره ايجاز (لنډون) څخه را پيدا شوی دی او له مضر اطناب څخه يې په ټوله کې ډډه کړې ده. د نثر ځينې نورې ځانگړنې يې هم په لاندې ډول وړاندې کوم.

**زړه را ښکونکی پيل:** لا تر اوسه هم زموږ د گڼو مقالو او ليکنو پيل په کليشه يي او تشريفاتي کلمو او ترکيبونو کېږي

۲مخ


څېړنوال دوکتور محمد داود عربزی


## ډاکټر اکبر د پښتني فکر شاعر

موږ وايو چې شعر هنري جوهر دی او د جوهر تراشل د يو واکمن شاعر کار دی، شعر د هنر په طلايي ټال کې د خيال په وزرو الوت دی، چې شاعر يې د خپلو پنځه‌گونو حواسو پر مټ د عاطفي ټرون په مراندو کلک تړي او د ټولنې هره ناخواله د ذهن په ژورو کې انځوروي.ځينې پوهان بيا په څرگند ډول وايي چې: شعر خوږو خبرو ته وايي او دا پيل به د ښکلا او هنر په تار تاثير ښندونکي هم وي او په کلام کې به په خارق العاده ډول ځای کېږي، ځکه چې شاعر د ټولنې پېښې په اغېزناکه ډول انځوروي او د خپلو لوستونکو احساسات راپاروي او د هغوی هنري تنده ماتوي.د هرې ټولنې شعر د هماغې ټولنې پر کلتوري اډانه را څرخي، زموږ شعر د پښتني رواياتو او دودونو تابع دی، د شاعر ټولې پرتلنې به د خپلې ټولنې د ناخوالو او ښېگڼو انځورگري وي او د ټولنيزې اړتيا سره سم به د پرمختگ ښوونه هم وي. زيات وخت به د شاعر هنري پيوندونه د ټولنې د تفکر او تعقل نه لوړ وي، په دې معنا چې شاعر د ټولنې د ښېگڼو او بدگڼو کره کتونکی هم دی او اړ دی چې د ټولنې اړتيا په لوړ فکر او ژور خيال سره انځور کړي.

زموږ همدا هېر شوی اوسمهالی شاعر ډاکټرمحمد اکبر اکبر هم د همدې پښتني پنډغالي يوه نوموتې څېره ده او د خپلې ټولنې د اړتيا او وړتيا ارواپوهنيز جادو گر هم دی، د ده شاعري د پښتني ټولنې انځورگره او د پښتني تفکر نه ډکه ده.

دلته يې په نوې شعري ټولگې ((اتلې هيلې)) په شعرونو کتنه کوو او په بېلابېلو رنگينو يې تم کېږو، دا شعري جونگ ټول دوه سوه اووه ځلوېښت مخونه لري، چې په کې غزلې، نظمونه، څلورېزې، ازاد شعرونه او نور راغلي. دا ټولگه په ۱۴۰۱ لمريز کال د سلواغې په مياشت کې د انټرنټ پر مخ خپره شوې، چې د پښتو شعر دوو وتلوو څېرو درويش دراني او پيرمحمد کاروان پرې ليکنې کړي.تر هرڅه دمخه راته دا ستونزمنه او له ننگونو ډکه ده چې په داسې يو شاعر ليکل وکړم چې فکر او مطالعه يې تر ما لوړه او په ډېرو چارو کې زما لاربنود پاتې شوی، خو بيا هم د خپل مسلک سره د مينې او هم د ډاکټر اکبر د نازکخياله شعر په لوستو اړ شوم چې څو کرښې وکاږم. ډاکټر اکبر هم د هماغې ټولنې شاعر دی چې وگړي يې خپل ښاغلي په ژوندونې نه ستايي خو پس له مرگه يې په ارمان لاسونه مروړي، اروابناد ډاکټر صاحب شاه صابر يوه ورځ په مسکه لهجه وويل

۲مخ

څېړندوی یاسر پاچا سادات

## د علمي مقالې د ارزونې لارې چارې

هغه علمي ـ څېړنیزې مقالې چې په مجلو، اخبارونو او نورو مجموعو کې چاپ شوي دي، هغه هم تر نقد او ارزونې لاندې راتلای شي او هېڅ لیکنه (پرته له قران پاک او احادیثو څخه) له نقد او ارزونې څخه مستثناء نه ده. د علمي مقالې ارزونه او کره کتنه، ګڼې موخې او اهداف لري، چې ځینې یې په دې ډول وړاندې کوم:

۱. د علمي مقالې د ارزونې لومړی هدف، د ادبیاتو د تیورۍ په برخه کې سمون او هماهنګي ده، په دې معنا چې لیکوال باید یوازې د خپلې سلیقې له مخې مخ ته ولاړ نه شي، البته دا خبره په کل کې نسبي ده. که په یوه وخت کې د ادبیاتو دوه لیکوال په یوې واحدې موضوع، مثلاً: د چاربیتې په پېژاند باندې بېلابېلې لیکنې وکړي او د یوې واحدې اصطلاح لپاره دوه بېلابېل تعریفونه وړاندې کړي او دلایل یې هم متفاوت وي، دلته اړتیا ده چې یو دریېم لیکوال د کره کتنې یا ارزونې تر سرلیک لاندې رامخ ته شي او د مؤثقو دلایلو پر بنا یاده اصطلاح روښانه کړي، تر څو لوستونکی د یادې موضوع په تړاو له کومې تیوریکي ستونزې سره مخامخ نه شي.
موږ د علومو په هره برخه کې یو لړ منلي اصول او قواعد لرو چې د هغو اصولو له مخې د یوې لیکنې لوری ټاکلی شو. زما د خبرې معنا دا نه ده چې د دغو اصولو په رعایت سره دې د نوښت مخه ونیول شي. د علومو په برخه کې مثبت نوښت خپله یوه لار ده چې اړوند ځانګوال یې پیروي کوي او نورو ته د لارې د نقشې معنا لري.

۲. د علمي مقالې د ارزونې دویمه موخه دا ده چې په دې سره یو لیکوال خپلو خامیو او پختګیو ته متوجه کېږي، تر څو لیکوال په ګانده کې خپلې نیمګړتیاوې وپېژني او مناسبې حل لارې ورته وپلټي.

۳. د علمي مقالې د ارزونې درېیمه موخه دا ده، چې لوستونکي ته موخنه موضوع په ښه شکل سره روښانه کېږي او ژر ترې نتیجه اخیستلای شي.

د علمي مقالو ارزونه او کره کتنه ګڼې موخې او اهداف لري چې دلته یې پر همدغو بسنه کو...

**د علمي مقالې د ارزونې اصول او لارې**

د مقالې ارزونه یا کره کتنه؛ د ځانګړو اصولو او قواعدو له مخې تر سره کېږي، دغه اصول او قواعد د مقالې د ارزونې لپاره د لارې د نقشې معنا لري او د همدغو اصولو له مخې یو لیکوال یا څېړونکی د مقالې ټولې خواوې روښانوي.
د یوې مقالې ارزونه یا شننه د څو اړخونو له مخې تر سره کېدای شي، مثلاً:
د یوې مقالې ژبنۍ ارزونه
د یوې مقالې منځپانګیزه یا محتوایي ارزونه
د یوې مقالې د تیورۍ باوریتوب ارزونه
یوه مقاله د څېړنې له معاصرو اصولو سره د جوړښت له مخې څومره سمون لري؟

د پورته او ځینو نورو مواردو په پام کې نیولو سره د یوې مقالې ټولې خواوې ارزول‌ای شو، ولې په دغو برخو کې ځینې استثناوې شته دي، چې موږ نه شو کولای، ټولې مقالې د همدغو اصولو له مخې نقد کړو. د دغې ادعا د ثبوت لپاره دلایل شته دي، مثلاً موږ نه شو کولای چې د اویا یا اتیا کالو پخوانۍ مقاله را واخلو او د معاصرې تیورۍ له اصولو سره یې پرتله کړو او بیا و وایو چې دا مقاله د څېړنې له اصولو سره برابره نه ده، ځکه چې سریزه، لنډیز، پایله او... نه لري. اتیا کاله وړاندې د یوې مقالې د څېړنې اصول او شرایط یو ډول وو، مګر اوس د مقالې لیکنې اصول بل ډول دي، کېدای شي اتیا کاله وروسته د مقالې لیکنې د څېړلو اصول بل ډول وي.

۱. له محتوايي اړخه د مقالې ارزونه
له محتوايي اړخه د یوې مقالې په ارزونه کې ګڼ شرایط تر بحث لاندې نیول کېدای شي. د یوې مقالې په محتوايي نقد کې تر هر څه لومړی باید دا ثابته کړو، چې آیا د مقالې سرلیک د مقالې له محتوا سره سم سمون لري او که نه؟
ډېر کله به مو داسې مقالې هم لوستي وي چې د مقالې عنوان به «سوله» وي، خو هلته به د مقالې تر پایه په «جګړه» بحث شوی وي. یا دا چې د ادبیاتو یو لیکوال به د مقالې سر لیک معدوله "و" ټاکلی وي، خو هلته به ټول بحث په عمومي فونولوژي را څرخي او د مقالې په پای کې به یوازې دوه کرښې له درېو بېلګو سره د معدوله "و" په اړه راوړل شوي وي. دغه ډول لیکنې اصلاً په ننۍ بوخته نړۍ کې د لوستونکي وخت ضایع کوي او لوستونکی ترې خپله مطلوبه او موخنه موضوع نه شي اخیستلای، نو هڅه دې وشي، تر څو خپلې مقالې ته داسې یو سر لیک وټاکو چې د مقالې له محتوا سره همغږی وي او د مقالې متن او محتوا د سرلیک عمومي انځور وړاندې کړای شي، نه دا چې د مقالې سرلیک د مقالې له متن سره په مغایرت کې وي.

۲. له ژبني اړخه د مقالې ارزونه
له ژبني اړخه د مقالې په ارزونه کې د مقالې ویېونه، ترکیبونه، جملې، پراګرافونه، د لفظ او معنا تر منځ سمون، د لیک نخښو سمه او کره کارونه او نور مسایل په پام کې نیول کېږي، که چېرته یوه مقاله له دغو اصولو سره برابر لیکل شوي وي، نو له ژبني اړخه دغه مقاله یوه ښه مقاله ګڼل کېدای شي....نور بیا!

## د ارمانښار یا ایډیالي نړۍ ...

چې د اوسېدونکو لپاره یې د کلیو، کوڅو بازارونو او ښارونو په هکله په دوکانونو کې هر څه پرېمانه اېښوول شوي، هر څوک ورځي او د خپلې اړتیا وړ توکي ترې په وړیا توګه را اخلي. د افلاطون فاضله مدینه د محتوا له نظره هغه خیالاتو ته ورته ده چې توماس مور په خپل کتاب اوتوپیا، یوتوپیا Utopia کې مجسم کړي دي او څرنګه چې utopia یوه خیالي جزیره Island ده، ځکه نو Utopia ته د ایډیالیزم Idealism اصطلاح کارول شوې ده چې افلاطون په خپله د همدې ایډیالیستي مکتب بنسټ ایښودونکی پېژندل کېږي. اوسن اګوسټین بیا همدې ټولنې ته د نړیوالې ښارېي خطاب کړی دی." (۵)افلاطون په خپلې فاضلې مدینې یا خیالي نړۍ کې داسې ښار انځور کړی چې هر سړی د ښار له هټیو نه د خپلې اړتیا وړ توکي په وړیا اخلي او ښرته ځي. په ښار کې یې خوشحالي واکمنې دي، د خپګان په نامه څوک څه نه پېژني او نه هم فقر په کې شته، ځکه هر څه په ښار کې وړیا او تر بسه پورې دي، چې دغه ډول ښار نه د بشریت په تاریخ کې تېر شوی او نه به په ګانده کې پیدا شي، نو ځکه ورته فاضله مدینه یا خیالي نړۍ ویل کېږي. تر افلاطون وروسته انګریز پوه سرټامس مور (۱۴۷۸- ۱۵۳۵ ز) ارمانښار ادبیاتو ته ادبي بڼه او تومنه وبخښله. مور په لاتیني ژبه د ارمانښار «اتوپیا» (۱۵۱۶ ز) په نامه یوه کیسه ولیکله او په دې توګه دغې اصطلاح د لومړي ځل لپاره کیسه ییزو ادبیاتو ته لار پیدا کړه. د ادبپوهانو په وینا د ارمانښار ادبیات شکلي او اصیله منځپانګه لري، هر څه په کې د یو نظم او سیستم پر اساس کنښل کېږي، خو تر ټولو مهم آر یې یو رنګوالی او له خورو ورو موضوعاتو څخه ځان را ټولول دي. چل او درواغ ویل په کې ځای نه لري او په ساده اصطلاح هر څه په کې غوره او په زړه پورې دي. تر سرټامس مور وروسته ایټالیوي فیلسوف ټوماس کامپانلا (۱۵۶۸- ۱۶۳۹ ز) د لمر ښار په نامه پر همدې موضوع یو کتاب وکېښ چې تر ده وروسته دا موضوع هم نوره پراخه شوه او هم د ډېرو هېوادونو ادبیاتو ته یې لار پیدا کړه، چې دغې لار موندنې دوه ډوله لېوالتیاوې خپلې کړې. یو ډول لېوالتیا؛ خیالي ادبیات هغو ادبیاتو ته ویل کېدل چې له واقعي نړۍ څخه په کې تېښته کېده او دویم ډول لېوالتیا یا خیالي ادبیات هغه وو چې انسان په کې له ناچارۍ ژوند کاوه او بویه چې جوړ او بیا کتنه یې پرې کړی وای، چې دغه نظریه پراخه او ډېرو ادبپوهانو پر همدې لار مزل پیل وکړ. (۶)که له نړۍ والې تاریخچې یې راتېر شو او په پښتو ادب کې یې مخینه وپلټو، نو روح یې په لرغوني ادبي دورې کې هم موندلای شو او آن د امیر کروړ ویاړنه یې ښه بېلګه ده، ځکه هم په کې د ځان خارق العاده ګي ښیي او هم داسې ځواکمنتیا څرګندوي چې د نورو مخالفو انسانانو ترې ډار کېږي، خو دا چې حقیقت څه دی، نو باید د امیر کروړ فزیکي شتون وکتل شي، چې دا هم ناشونی کار دی. خو که موږ د ارمانښار معاصره بېلګه لټو، نو بیا یې د پښتو ادبیاتو د دویمې ادبي دورې د سر لاري شاعر خوشحال خان بابا په اکثریتو اشعارو او آن نثرونو کې موندلای شو، ځکه هم واقعي فکر بیانوي او هم ایډیالي، آن په ډېرو واقعي مسایلو کې ترې هم ایډیالي مسایل اغږل شوي دي او داسې بیان شوي چې موجودیت یې اوس هم شکونه پیدا کوي، لکه د نوموړي د مېرمنو او اولادونو د شمېر په اړه، د نوموړي د اثارو روایتي شمېرو په اړه او یا هم په جګړه کې د پرتلیز پوځ او سوبو په اړه بیانونه چې لاس په لاس جګړه کې بیا د دې ټولو خبرو منل یو څه د تأمل وړ برېښي، آن په ځینو جګړو کې یې د خوراک په اړه روایتونو خبره له اسطورې هم پورته کړې او د حماسې یوې ځانګړنې ته یې رسولې چې په واقعي نړۍ کې منښته به یې زور وغواړي.دغو مسایلو ته په کتلو سره پوښتنه پیدا کېږي چې اتوپیا ادبیات په نثر کې زیات دي او که نظم او شعر کې؟ څرګنده خبره ده چې په دواړو کې شته، خو په نثر او بیا په کیسه ییز ژانر کې یې بېلګې زیاتې دي، آن زموږ انځوریزې ډرامې او فلمونه هم ترې ډک دي، چې په ښکاره یې د ښارې او کلیوالي ژوند دومره افراط او تفریط وړاندې کړی وي، چې په عادي حالت کې یې هم منښته د تأمل وړ وي، لکه د کونډې زوی د سریال په ځینو برخو کې چې د مهذب ژوند بېلګې وړاندې کېږي، په داسې حال کې چې په هماغه وخت کې هم حقیقي ژوند هغسې نه و، لکه څنګه چې انځور شوی دی. یا هم په ګنو لنډو کیسو او ناولونو کې یې بېلګې وینو، چې د لنډو کیسو په یوه بېلګه کې به یې د سوله مل شینواري د پنځوس میلیونه لنډې کیسې ته نغوته وکړو: "... د اوږده اسویلي په ملتیا یې وویل: پنځوس میلیونه؟ دې ته غوپه وایي.
ګلداد یې خبره تصدیق کړه. ښه مشوره ده، خو داسې نر لا موږ نه دی زېږولی چې د ده درک معلوم کړي... هغه په پنځوس میلیونو سورو کې پسې لټوه نو!جانداد دستې ورغبرګه کړه.امریکایان ساده ګان نه دي، دوی پوهېږي چې په پنځوس میلیونو سورو کې د هغه درک همداسې پنځوس میلیونه کلونه او سرونه غواړي.
بیا یې ګلداد ته وویل: خو پنځوس میلیونه ډالره هم په خوله یادېږي، که سړی د دې پیسو له پاره ۵۰ میلیونه خطرونه هم په ځان ومني لا کم دي، خو ...." (۷)
په دغه بېلګه کې ګورو چې د کیسې کرکټران د پنځوس میلیونو ډالرو لپاره ډېر خوبونه او خیالونه ویني، لومړی د مشکوک شخص د لټې فکر کوي او بیا یې د انعام لپاره له ځان سره ارمانښار جوړوي چې په دغو پیسو به څه کوي، څه ډول بنګلې به اخلي، څومره مارکېټونه به جوړوي، څومره ودونه به کوي او کوم ډول ژوند به اختیاروي!.
دا د ګڼو انسان فطرت دی چې د ښه ژوند کولو هیلې او ارمان لري او په اړه یې له ځان سره یوه خیالي یا موهومي نړۍ جوړوي، منظم ژوند او منظم هېواد غواړي. که په خپل هېواد کې خپلې غوښتنې او اړتیاوې نه شي پوره کولای، نو بیا نورو هېوادونو ته د تګ اراده کوي او خپلې ایډیالي نړۍ ته ځان رسول غواړي، خو دا په زړو که یو تن او یا هم تر دې زیاتو کسانو کې یو تن ته مساعدېږي، نور په زرګونو او آن لکونو انسانان همداسې د خوب او خیال په نړۍ کې له ګڼو ارمانونو سره له دې نړۍ ځي، نو که خبره را ټوله کړم د اتوپیا یا ارمانښار ادبیات همدغه ډول ادبیاتو ته وایي چې د انسان خیالي نړۍ مطالعه او نورو ته یې انځور کړي او دا ورته زبات کاندې چې هر انسان په خپلې داخلي نړۍ کې ارمانښار یا خیالی نړۍ لري، خو څوک یې په جرأت سره د ویلو توان لري او چا هم د ټولنیزو نزاکتونو یا نورو ملاحظو له امله په ستوني او سینه کې زندۍ کړې وي، خو د ذهن دریڅې یې ترې ډکې وي. یا په بله ژبه د واقعي انسانانو ارمانښار داسې ارماني واقعیت ته وایي چې هېڅ ډول نیمګړتیا ونه لري یا یو داسې حقیقت دی چې ډېر خله یا هېڅکله ورته لاس رسی شونی نه دی، خو انسانان یې د خپل ذهن په دریځو کې پالي او ورته په تمه وي.

**مأخذونه**


**۱. دانشنامه آزاد. یوتوپیا یا آرمان شهر، ویکي پیدا، را اخیستنه ۲۵/ ۹/ ۱۴۰۲ لمریز. /ttps://fa.wikipedia.org/wiki**
**۲. ناپرلیکه یا لیکوتې پښتو سیند. اوتوپیا، را اخیستنه، ۲۵/ ۹/ ۱۴۰۲ لمریز کال. Offline Pashto Dictionary, Utopia**
**۳. دانشنامه آزاد. یوتوپیا یا آرمان شهر، ویکي پیدا، را اخیستنه ۲۵/ ۹/ ۱۴۰۲ لمریز. /ttps://fa.wikipedia.org/wiki**
**۴. د ګیلګمش افسانه. پښتو ژباړن ذبیح الله صاحب ارغند:** جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ لمریز کال، ۶۳- ۶۴ مخونه.
۵. افلاطون. جمهوریت، د سیدنظیم سیدي ژباړه، دویم چاپ، سوله خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۶ لمریز کال، ج - د مخونه.


۳مخ

## نړۍ والې ژبې...

همداسې په لنډ وخت کې ویېونه او د دوی د ترکیب میکانیزم (Mechanism) لاتین نومونه دي، هم د زده کولو وي تر څو په دې واسطې سره انسانان وکولای شي چې د نړۍ د هرې برخې څخه خبر شي.
فیلسوف Leibniz د خپل ټول ژوند په اوږدو کې د یوې فلسفي ژبې په ایجادولو باندې فکر وکړ‌خو ده هم د Descartes فیلسوف غوندې خپل نظریات ډېر لږ په عملي توګه د حس کېدو وړ کړل. په ټوله کې ده هم د دیکارټېس په شان پرنسیپونه لرل.
په دې افکارو سربېره په راوروسته کې داسې پلټنې وشوې تر څو فلسفي ژبې په عملي ډول د منلو وړ وګرځي. فلسفي ژبې د افکارو په منطقي ډلبندۍ باندې تکیه کوي، دغه منطقي ډلبندي د تورو د یو ځای والي په ذریعه تشریح کېږي. سره ورته ویېونه بایده دي چې د سره ورته یا مشابه افکارو استازیتوب وکړي. د همجنسو توکو او شیانو طبقه باید د یو ځای او ګډو تورو د ګروپ په وسیله شرحه شي. دلته د یوه او بل شي تر منځ توپیر د اوس لاوټ Auslaut(Auslaut د یوه ویې وروستي غږونو ته وایي.) په واسطه ښودل کېږي، د ساري په ډول په داسې یوه ژبه کې چې په هغې کې ویېونه (Genera) له مخې ډلبندي کېږي، په Nomenklatur (د مسلکي نومونو لست یا مجموعې ته ویل کېږي.) کې یې ځانګړې نښه یا علامه aba ده او دا ښیي چې خبره په یوه شي باندې را څرخي. د هر شي لپاره د توریو ځانګړی ګروپ لاښوونه کوي د نمونې په ډول ababa (اکسیجن)، ababe (هایدروجن)، ababi (نایتروجن)،ababo(سلفر)،ababu (سیلېنیوم Selenium).
د ګرامري جوړښت په برخه کې چې هلته هره کټګوري د یوه توري په واسطه په نخښه کېږي په همداسې ډول وړاندې تلای شي.
فلسفي ژبې هېڅکله هم طبعي ژبې نه وي. په دې سربېره د دوی پلویان هم په هېڅ صورت دا غوښتنه نه لري چې نوموړې ژبې باید چې طبعي ژبې بدلې کړي، بلکې داسې وړاندیز کوي چې دوی (فلسفي ژبې) باید چې د پوهاوي د نړۍ والو وسیلو په توګه په ځانګړو ځایونو؛ لکه پوهنه، راکړه ورکړه او نورو کې وکارول شي، خو دوی په هېڅ یو ځای یا چاپېریال کې د کارونې وړ نه وي، ځکه چې په واقعیت کې دا ډېره اسانه ده چې د اعدادو له سیستم څخه وروسته په میلیونونو ویېونه جوړ کړي، خو دا ناشونې ده چې هغه وساتي.
یوه مشهوره ژبه چې خپل ځان یې په یوه له شکه وتلې Zirkulation کې د ګټې اخیستنې وړ وګرځوه او د هغو مصنوعي ژبو Lebergang تېرېدل چې په طبعي ژبو باندې اتکاء کوي را ښیي Volapueck ژبه ده. دا ژبه په ۱۸۷۹ کال کې جرمني Pfarrer یا عیسوي مذهبه کشیش یوهان مارټین شلېیر Johann Martin Schleyer جوړه کړه په دې ژبه کې یوه لړۍ Periodika (یوناني کلمه ده) مجلې په منظم ډول چاپ شوې او درې Kongresse (لاتین کلمه ده.) مسلکي یا سیاسي غونډې او جرګې پکې دایرې شوې.
په دې ژبه په ۱۸۸۷ کال په Jasi کې د رومانیا د خلکو لپاره د تدریس یو کتاب چاپ شو. دې ژبې د فلسفي ژبو سره دومره ورته والی درلود چې ګرامري اوړون یا ګردان یې پوره په شعوري ډول د طبعي ژبو د اوړون غونډې عام نه دی. د دې ژبې ویېونه د جرمنیک ژبو په تېره بیا د انګرېزي ژبې دي. حتی د دې ژبې نوم هم د دوو ډېرو قوي اسانو ویېونو د پیوندولو څخه منځته راغلی دی: World نړی او Speak خبرې کول. په ټوله کې د دې ژبې ویېونه داسې Deformiert متغیېر شوي دي چې حتی د یو شمېر هغو کسانو یا خلکو لپاره چې په انګرېزي ژبه غږېږي د پوهېدو نه دي.
حتی کله کله خو نړی وال ویېونه چې په یوه ژبه کې د بلې سره ډېر لږ توپیر لري په هر اړخیزه توګه په مصنوعي ډول اسان شوي دي، د ساري په ډول Alpen په دې ژبه کې Lap او Zimmer کوټه Cem د ایجادولو د مخکېنۍ علاقې په سبب د لنډو ویېونو په شکل وړاندې شوي دي تر څو د نړۍ والو ژبو مخکېني موجود ویېونه پسې لنډ کړي. د نمونې په ډول Literat ادیب، لیکونکی او Philosoph باید چې په Lirat او Fisop واړول شي.
Esperanto اسپیرانټو تر ټولو مصنوعي ژبو مشهوره او پراخه ده.
دا ژبه په طبعي ژبو په تېره بیا په روماني او جرمنیک ژبو باندې تکیه کوي څخه وروسته دا ژبه د هغه Pseudonym (یوناني کلمه ده اصلي معنا مصنوعي نوم دی. په جرمني ژبه کې د Deckname ویې ورته کاروي. Decken په جرمني ژبه کې پوښلو او پټولو ته وایي.) چې د هغه جوړونکي پولنډي د سترګو ډاکټر ورته خوښ کړ په دې نوم ونومول شوه. نوموړي په ۱۸۸۷ کال کې د دې ژبې د تدریس لومړنی کتاب چاپ کړ.
دې ژبې تر ټولو مخکې په روسیه کې پراختیا وکړه. له هغه څخه وروسته یې په جرمني، انګلستان او نورو هېوادونو کې غزونې وکړې. په دې ژبه د تدریس کتابونه، ورځپاڼې او مجلې راووتې. په همدې ژبه د کلاسیکو اثارو ژباړې هم وشوې.
نن ورځ په بېلابېلو هېوادونو کې د اسپیرانټو مرکزونه موجود دي، پرته له دې چې سړی دا فکر وکړي چې اسپیرانټو به یو وخت د طبعي ژبو ځای ونیولی شي، کېدای شي چې د داسې نړی وال Code په سترګه ورته وکتل شي چې په هغه کې د علمي محیط افکار او خیالات په واک کې ورکول کېږي. د جوړښت له مخې اسپیرانټو د نورو مصنوعي ژبو په پرتله ډېره اسانه ده. دا ژبه هېڅ دیفتانګونه نه لري، Diphthong یوناني ویی دی لومړی معنا یې دوه غږونه دي) .

**/ مقاله دوام لري: د دې برخې پای.**

## ډاکټر اکبر؛ د پښتني فکر ...

چې صابر به پس له مرګه پښتنو ته معلوم شي، خو په ژوندوني یې دا پېژندنه سخته ده، هغه وخت راته دا خبره حیرانونکې وه، خو رښتیا هم کله چې صابر مړ شو او پښتانه یې د شعر ژورو ته ورکوز شول بیا مو په رښتیا چې د صاحب شاه صابر په ارمان پسې لاسونه ومروړل.زموږ په ټولنه کې دا دود ډېر لرغونی دی خو تر اوسه لا هم په همدې ناخوښ دود پایو او په ژوندوني د خپل هر ښاغلي سره داسې چلند کوو چې یا یې د ژبنې چوپړه زړه ور موړ کړو او یا یې تر مرګه مات زړی کړو.
ډاکټر اکبر هم دې ټکي ته نغوته کوي او وايي:

ستړګې په ازغو ږدي ځان له لار کوي
څوک چې دې بدبختو له څه کار کوي
ته به ورته ټوله شپه دعا کوې
دی به درته ټوله ورځ ازار کوي
هر څوک چې په لوړ فکر سرلوړی شي
دوی به هرکلی ورته په دار کوي
سر یې د نړۍ د سوداګرو شو
اوس به په ده لـــــوبې د بازار کـوي

د ډاکټر اکبر د شعر هر توری لکه د اړواښاد پسرلي او اروښاد صاحب شاه صابر د زړه په پردو اثر ناک دی او د خپلې ټولنې د ویښتیا اوازونه دي، د قام ماضي او حال دواړه په کې ژاړي، د هنر له تومنې برخمن او د عاطفي ترون او طبیعي خیالونو ډک دی. د ده د شعر په لوستو سره لوستونکي ته دا جوتېږي چې شاعري یې د یوه ځانګړي پرمختیایي فکر، د عالي پیغام زېږنده ده، په شعر کې پیغام هغه مهال تر لاسه کېږي چې لوستونکی یا اورېدونکی د شاعر کلام تر پایه ولولي او واوري، دغه وخت چې مقابل لوري د ټول شعر نه څه اخځ وکړ، همدا د پیغام په مانا دی، ځکه چې پیغام د شعر په روح کې پټ وي او لوستونکي ته تر اخره ځان خپله را څرګندوي. موږ ډېر شعرونه لرو، چې په لوړ عالي ذوق لیکل شوي وي خو د فکر او پیغام په برخه کې نیمګړي وي، کوم شعرونه چې دا ډول ښېګڼه ونه لري، هغه بیا ارزښت نه لري او د لنډ مهاله سره له منځه ځي.ډاکټر اکبر د اسمان کنارو ته په پښتني پوړۍ ورخېژي او د خپل ولس د پرمختګ څرکونه په کې له ورایه ګوري او خپله ټولنه په خپل پښتني عظمت ستایي، د ده یو شعر مې اوس هم په یاد دی چې:

لوړ په اسمان سر وبسه
سر لکه د لمـــر وبسه
ســتوري لاندې نه راځي
بر پسې خیـــبر وبسه

په دې شعر کې ډاکټر د خپلې ټولنې لوړتیا او ځوړتیا دواړو ته نغوته کوي او خپله ټولنه اړ باسي چې د ننې نړیوال پرمختګ یوه برخه شي. د ډاکټر اکبر په ټول شعري انځور کې د پښتون د وړاندې تګ تصور جوت دی او همدا یې هیله ده چې خپل قام د نړۍ د نورو قامونو سره په هر برید سیال ووینې، د ټولو ستاینو سره بیا هم غواړي چې قام یې د پوهې پر ګاټه سمبال وي.

اوس په خپـلو ګـوتو د ژونـدون صحیـــفې ولیکه
پوې مې کړې او لوی مې کړې او فکر د دې سر مې کړې

۴مخ

## ډرامه څنګه...؟

ټکي په ویلو سره، چې دا هم تاسو او دا هم د ډرامې پاتې پېښې؛ له صحنې نه به ووت.

**کرکټرکښنه:** په ډرامه کې تر ټولو مهم اصل کرکټر دی، ځکه هغه دی چې ډرامې ته روح وربښي. لیکوال باید په لیکلو کې له ښې کرکټرکښنې څخه استفاده وکړي. البته دلته باید د کرکټر ټول اړوایي، فزیکي، اعتقادي، فرهنګي، عاطفي او ټولنیز اړخونه په یو بشپړ تناسب کې په پام کې ونیول شي. دا کار د دې لپاره کېږي چې لیدونکي له هغه سره په ښه ډول اړیکه ټینګه کړي. د دې کار یوه ګټه دا ده چې لوبغاړی په ډرامه کې خپل ځان پېژني او په دې ډول خپل رول ښه لوبولای شي. په دې برخه کې د کرکټر اروایي ځانګړنه ډېره ونډه لري. څکه لیدونکي د لوبغاړي د ډیالوګ، د غږ تون، ژستونو او بدني حرکتونو، دریډو، تګ او د څېرې د حالاتو په لیدو د هغه په اړه قضاوت کوي.
د کرکټر پېژندنې په لړ کې لیکوال دې پوښتنو ته ځواب ورکوي چې: دا کرکټر څوک دی؟ څه ډول سړی دی؟ له کومه راغلی، د ډرامې له داستان سره څه اړیکه لري؟ ولې یې حضور پیدا کړی؟ د هغه غوښتنې او اهداف څه دي؟ د هغه کرنې او فردي خصوصیات څه ډول دي؟ ستونزه یې څه ده؟ څه ډول له ستونزو او خنډونو راوزي؟

**غوټه:** د دې لپاره، چې ډرامه له یوخپل والي وباسو او لیدونکي له هیجان سره مخ کړو؛ باید په ډرامه کې غوټه اچولو ته پام وکړو، خو مهمه دا ده چې دا کار څه وخت او څه ډول وکړو. البته دا غوټې باید د ډرامې د هدف په بنسټ وي چې کرکټر د هغه د ثابتولو لپاره هڅه کوي او ډېر خطرونه په کې زغمي. هره ډرامه باید یوه یا څو غوټې ولري.
لیکوال په لومړۍ غوټه کې له کرکټر سره د داستان په پرمخ بېولو کې مرسته کوي. کله چې ډرامه له روان حالت نه وځي، د اصلي غوټې د پیاوړتیا لپاره باید یوه بله غوټه رامنځته شي. دا غوټې باید یو له بل سره بې ارتباطه نه وي او په اسانۍ سره خلاصې نه شي، غوټې باید کرکټر مجبور کړي چې د هغه د خلاصولو لپاره ځان تېربدنه څرګنده کړي او ستونزې وزغمي.

**تلوسه:** تلوسه د غوټې مالګه ګڼل کېږي. ویل کېږي څومره چې تلوسه زیاتېږي، هغومره ورسره د ډرامې هیجان زیاتېږي. تلوسه هغه شېبه رامنځته کېږي چې د ډرامې یو کرکټر په یو غټ او برخلیک جوړوونکي تصمیم کې دوه زړي توب سره مخ کېږي، مثلاً لاړ شي که نه؟ دا کار وکړي که نه؟ دعوا وکړي او که نه؟ قتل وکړي که نه؟ او...

**ټکر او اوج:** وروسته له هغه چې تلوسه رامنځته شوه او کرکټر خپل تصمیم ونیو، هغه له ټکر سره مخامخ کوو. اوس زموږ کرکټر یو هوډ او هدف لري چې هغه ته د رسېدو لپاره باید له دغو خنډونو واوړي. ټکر په مکالمه یې او فزیکي ډول رامنځته کېږي. کېدای شي ټکر دروني وي او انسان له خپل وجدان او نفساني حالاتو او... سره په کشمکش کې وي، یا انسان له انسان سره، انسان له ژویو سره، له طبیعت سره او یا... سره په کشمکش کې وي، خو دا ټول باید د مقدمې، مقابلې، اوج او پای مرحلې ترشا پرېږدي. ټکر د ډرامې تر پایه دوام لري، ترڅو د کرکټرونو برخلیک څرګند شي.

**پایله:** کله، چې ټکرونه پای ته رسیږي، مسئله پخپله

۳مخ

# د سالک ...

او دا پيل ډېر ځله تر اصلي برخې د رسېدو واټن کې د لوستونکي حوصله او ذوق خپې، يا په بل عبارت ليکوال په نا مستقيم ډول خپلې اصلي خبرې ته راځي، حال دا چې د څېړنې د نوې مېتودولوژي له مخې بايد ليکوال او څېړونکی له دې هسې او غير معلوماتي مقدمې تېر شي او مخامخ په موضوع پيل وکړي، ځکه چې د اوسني لوستونکي وخت ډېر لنډ او تنګ دی.

د سالک د ليکنو پيل له دغه غوره ځانګړنې برخمن دی چې مخامخ خپلې موضوع ته راځي، له تشريفاتي او له داسې جملو او ترکيبونو راوړلو ډډه کوي چې لوستونکی ستومانه کړي، د هغه د ليکنو پيل هم له لفظي ښکلا او هم ډېر ځله يو ډول داسې تلوسې او زړه راښکون څخه ډک دی چې موږ يې د داستاني متنونو ځانګړنه ګڼلی شو. د هغه د څو مقالو پيل داسې دی:«که په ماشومتوب کې د نارينه جنسي ميلان لټوو، هماغه د فرايډ خبره به رامخې ته کېږي چې د ماشوم ګوته رودلو دغه ميلان ته طبيعي اشاره ده، خو داهسې يوه نظريه تر اوسه هېڅ ساينسي تجربې د ماشوم په ګوته رودلو کې د جنس اثبات نه دی کړی.»

«جماليات لوستل زما د زلميتوب يوه رنګينه مشغولا وه، ځکه دا موضوع راته زړه ښکاري، خو بيا هم ليکلو ته اړ شوم، سبب يې دا و چې پر يوې لنډۍ مې غور کولو او د غور په وخت راته ښکاره شوه چې په لنډۍ کې د جمالياتو د دريو مشهورو نظريو څرک لګي»

«شاعرانه جمود کارول شوې اصطلاح ده، خو ښايي زه ددغه اصطلاح معنا لږه څه محدوده کړم او د هغه حالت لپاره به يې وکاروم چې يو شاعر تر مياشتو او ان تر کلونو داسې احساس کوي چې ګواکې نه شي ليکلای او که هڅه کوي هغه هم بريالی نه وي»

«همزولې ښاپېرۍ په افسانو کې راغلې ما بس پري په ښاپېرۍ اړولې چې د هر انسان له تولد سره د هغه همزولې ښاپېرۍ يا پيرۍ هم جهان ته راځي چې يو شمېر د جنس په اړه اختلاف لري»

د پورتنيو څلورو واړو مقالو پيل د پښتو اوسنيو مقالو خلاف ښکلی او مخامخ پيل شوی او ليکوال په کې خپله اصله خبره له لومړۍ کلمې پيل کړې چې مخکنۍ غوره ځانګړنې لري او لوستونکی له ځان سره ساتي.

**تصويري بيان:** څومره چې کلمې حسي او انځوريز اړخ پيدا کوي، هومره د لوستونکي او ليکوال تر منځ اړيکې نږدې کېږي، د نثر اغېز زيات او د لوستونکي په ذهن کې تلپاتې کېږي، دا چې سالک نوښتګر شاعر دی، دلته يې هم له خپل دغه هنر څخه ګټه اخيستې، يا په بل عبارت د شعر اغېز يې پر نثر هم پاتې شوی دی؛ لکه چې وايي:»په لرغوني نورستان کې هم لکه د نورو بشري ټولنو د پيل په څېر عقلانيت جرړې نه وې غځولې، خو ژوند يې د تخيل په زانګو کې زنګېده، تر دې چې له ښاپيريو سره يې مينې کولې.«

«بله لاره يې له همفکره شاعرانو اديبانو سره ناسته ولاړه ده چې تاسو کېنئ نو ستاسو ذوقونه هم ورته ګرځي تر ډېره مو د خوښې شاعران، کتابونه او اثار ګرځي د هنر په اړه مو نظريات نږدې کېږي بيا به تاسو د يوه رباب تارونه ګرځئ چې د نغمې پر مهال به ټول سر وي، نو وايم چې له هم اندو شاعرانو او اديبانو سره ناسته ولاړه د الهامونو سرچينه ده.»

« زه چې ددې ليکنې ودانۍ پورته کول غواړم نو په بنسټ کې راته اړينه برېښي چې د هندي سبک په اړه هم ځينې څرګندونې ولرم.«

«يوه ښکلې ده، خود پرسته ښکلې، ايينې ته ځي، خپله ښکلا يې خوښېږي خو دا چې خود پرسته ده، څه بايد وکړي، خامخا به ايينه کې خپلې ښکلا ته سر ټيټوي او بيا خو دا منظره پسې د کتو شي چې ددې سر انځور ته ټيټ شي او د انځور سر دې ته»

«د طبيعت ښکلا بې غرضه ښکلا ده، او د هر سالم ذوق د خوښې ښکلا ده، شاعر بايد غوږ ونيسي چې ابشار په کوم تال کومه سندره وايي، ته حس کړه چې د ماښامي په را نږدې کېدو ځنګل زړه ته څه احساس ورکوي، هلته انساني رابطې څنګه جوړېږي او څه يې مخه نيسي؟»«... او عشقي رومانونه د دوی احساس له مينې او ښکلا سره اشنا کوي، هغه څه چې لومړی وړانګې يې د يوه زلمي د ذوق د غره له هسکې څوکه پريوزي.»

**د ترکيبونو ښکلا:** شعري يا شاعرانه ترکيبونه د شعر زرينه مانۍ کې اړين ژبني توکي دي، خو د سالک په نثر کې هم په لا ډېر مهارت کارېدلي دي لکه: شعري لا شعوري، خيالي ګلدان، د تخيل رنګيني، د حس سيکه، د احساساتو عکاسي، د محبوب تصور، هنري تابلوګانې، د تعريف سيمه، تخيلي اختراع، تحميلي ذوق، تغزلي بيان، شاعرانه جمود، شعري منطق، ګونګه شاعري، همزولې ښاپېرۍ او نور...

**معلوماتي اړخ:** په نثر کې، هغه که هنري وي يا عادي ـ علمي، يوازې د ليکوال شته پوهه او معلومات بسنه نه کوي، اړتيا ده چې خپل معلوماتي ليدلوري هم د نورو پوهنو او تيوريو په رڼا کې شريک کړي، که څه هم دا کار په څېړنه کې اصل دی، خو په تخليقي اثارو کې هم د نثر معلوماتي اړخونه محتوا ته اعتبار او ښکلا ورکوي.

د سالک نثر هم پر خپلو معلوماتو سربېره اړوند او متناسب نقل قولونه او معلومات لري. مثلا د رومانټېسيزم او غني خان مقاله کې نږدې هر څو پراګرافه وروسته يو معلوماتي پراګراف راغلی دی، په ياده مقاله کې ليکي: رومانيويت په خپل وخت کې چټک يون وکړ او وروسته ددغه مکتب پرنګي شاعرانو باېرن، کيټس، شيلي، ورډز ورت، شيرډان، جين استېين بليک او کالرج دغه مکتب پر مخ بوت.

د شاعر همزولې ښاپېرۍ ليکنه کې راځي: په اردو او فارسي ادب کې دغې همزولې ښاپيرۍ ته همزاد هم وايي، لرغونو مصريانو هم پر همزولې ښاپيرۍ باور درلود او ( کا) يې بلله، د هندويزم فعالان هم همزاد يادوي او وايي همزاد نه مري، بلکې داسې به ووايو چې دغه افسانوي ارزښت ته يې د تناسخ رنګ ورکړی دی.

د جنون او شاعري ليکنه داسې پيل شوې ده: لغت ليکونکي جنون له جنه مشتق ګڼي، مجنون ياني پيرياني! خو دا ښايي د هغه وخت نوښت وي چې د هر رواني انساني بدلون لپاره يې په بهر کې علتونه کتل، خو دا نوم تر اوسه پاتې شو، نو ښکاره خبره ده چې له اوسنۍ ارواپوهنې او طب سره به پر دې اړه خپلې خبرې وي.

**لنډون او موضوعي تسلسل:** د سالک نثر د اوږدو، پېچلو او بې ربطه جملو پر ځای له لنډو جملو او تر ټولو کوچنيو پراګرافونو څخه جوړ شوی چې ډېر ځله يوازې محور جمله اصلي مفهوم وړاندې کوي او پر فرعي جملو تکيې ته اړتيا نه لري. له ځاځکي تر سيپۍ باندې د هغه د مقدمې پيل کټ مټ را اخلم. په دې کتاب کې تر ډېره پر تخليق خبرې شوې، او مرغلره هم له ځاځکي تر سيپۍ د تخليق يو لږ پړاوونه تېروي. دا چې دا مضمون له شعره دی نو د شعري کره کتنې لپاره راته دا نوم مناسب ښکاره شو، دا نوم د کتاب احاطه نه شي کولای، او يوازې د هغه لپاره يوه استعاره ده.

ښايي د کتاب د نوم او منځپانګې په تړاو نور تعبيرونه هم وي، خو دلته به همدا ويل بس وي. په نورو مقالو کې هم د جملو له همدا ډول چست او لنډ سکښت څخه کار اخيستل شوی دی، له ترکيبي او معترضه جملو او بې خونده يا تکراري ترکيبونو له راوړلو څخه ډډه شوې ده. بله هم د موضوعي تسلسل خبره ده، شاعر هم په عمومي ډول د کتاب د مقالو راوړلو او هم د هرې مقالې د ځينو ځنګزنو عنوانونو او موضوعاتو په تحليل کې دغه تسلسل ته پام کړی دی، د بېلګې په ډول د شعري ذوق سپړنه کې د موضوع تسلسل ډېر ښه راغلی او لوستونکی روزلی شي.

همداسې په شاعرانه يا ادبي منطق مقاله کې هم موضوعي تسلسل تر پايه پورې داسې بيان شوی چې لوستونکي ته قدم پر قدم نوې پوهه او معلومات ورکوي او ورسره روزل کېږي، دلته خلاق او مسلکي لوستونکی دا حس کوي چې ادبي منطق له رواني يا د نفسياتو له زاويې هم څه ناڅه وسپړل شي چې ورسره جوخت په بله مقاله کې د حمزه او د مينې نفسيات بحث پيل شوی دی او دا تشه د حمزه بابا په ادبي څېره کې له يوې فردي زاويې ډکه شوې ده.

**تجربه او وضاحت:** سالک له خپل ادبي ژوند څخه ګڼې تجربې لري، له سترو شاعرانو سره يې ناسته پاسته شوې چې ان تر حمزه بابا پورې رسېږي. تر ټولو غوره اړخ يې خپله تجربه ده، د ګونګې شاعرۍ په مقاله کې يو ځای ليکي: أشرف مفتون يوه ورځ راته ويل زما نوښت دادی چې زرينې او تورې زلفې نه يادوم پستې زلفې يادوم چې دواړه په کې راشي، تورې او شنې سترګې نه يادوم ښکلې سترګې يادوم دواړه ښکلې وي نو مفتون چې د ادب د افاقي کولو کومه فلسفه مخکې کوله يوازې شعرونه يې نه ليکل، بلکې د خپلو اندونو د اثبات لپاره به يې په خپلو ټولګو کې فلسفيانه ډوله نثري بحثونه هم چاپول.

بل ځای وايي: غضنفر زما پر يوه بيت ليکنه کړې وه او استدلال يې دا و چې د وحدت الوجود اظهار ډېر پخوانی شو، نوی انداز ورته په کار دی، رښتيا هم ما په خپله شاعرۍ کې د تصوفي تجربو لپاره د نويو مجازي علامتونو موندلو هڅه کړې، دا چې څومره به بريالی وي، د يوه شاعر په توګه يې ماته ويل ګران دي.

يو بل ځای ليکي: سهراب سپهري ډېر خلک له کاره ووېستل، سپهري بې معنا شعر نه دی ويلی خو هنري منطق يې دومره پېچلی دی چې اوس له بيدل سره پرتله کېږي. ما او زما همفکره اديبانو له دغو شاعرانو غوښتي وو چې د خپلو شعرونو معنا هنري منطق او تر شا يې پرته فلسفه راته ووايي خو ددغو ملګرو ځواب به تشه موسکا و.

د شاعرانه جمود د ماتېدلو په بحث کې يوه سپارښتنه کوي چې طبيعي ده د هغه تجربه به هم په کې شامله وي، ځکه وايي چې خپله دی هم نږدې پنځه کاله له دې رنځ سره مخ شوی دی. دا سپارښتنه داسې ده: يوه بله لاره هم شته او هغه دا چې ددغو شعري تجربو پر مهال لږ لږ هغه هنري اثار هم ورسره ولولئ چې ستاسې زړونو ته تر ټولو نيږدې دي.په همدې ډول د جانان د خولې خبره ليکنه کې وايي: زه خپله ددغه تخنيک د کارولو لېوال يم، زما په کتابونو کې هم د جانان د خولې خبرې شته او باور وکړئ ددغه راز شعرونو اغېز چټک او پارېدونکی وي، ما په ټولنيزو رسنيو کې خپل ډېر شعرونه خپاره کړل، خو دا دوه بيتونه مې د فېس بوک پر ډېرو دېوالونو وکتل:

سالکه تا خو زما نه منله
راته نکريزې ږدي واده مې کېږي
د سيند سندرې ته ځنګل ناځي
سالکه دلته مې تصوير واخله

**استدلال:** د وړاندې کړو فرضيو او موضوعاتو په تړاو استدلال کول د سالک د نثر يوه بله ښه ځانګړنه ده. د شاعرانو ډلې ليکنه کې يو ځای ليکي: د کډوالۍ د وخت شاعري د پښتو ادب د معاصر ادب تاج شاعري بولم. دی دلته نه وايي چې ده ياني خپل نظر پر ټولو وتپي، خپل دريځ يې انفرادي او ښه بيان کړی او بيا استدلال داسې کوي: ځکه هلته انجويزم، ډلبازۍ، مافيا او دا خبر نه وې، خو چې افغانستان ته راغلل، د خپلو اسلافو کارنامې يې پر اوبو يوړې، زما په نيت شک مه کوئ، نه د کومې سيميزې ادبي ډلې غړی يم، او نه خپله داسې ډله لرم.

د همدې ليکنې پای کې خپله اندېښنه هم له انفرادي زاويې څرګندوي: نور به دا ووايم چې دا بت پرستي که روانه وي د شعر بهير به شاته روان وي. بله دا چې ادبي مافيا په پښتونخوا کې نه وه او اوس هم نشته او دا ځکه چې هلته پروژې نشته. او دا هم ياد لرئ چې دا به د معاصر پښتو شعر تاريخ کې يو تور څېرکی وي.

**پر ځان باور:** پر ځان باور هغه مهال راپيدا کېږي چې يو څوک په ځان کې څه ويني، شاعر د خپلو کلمو پر لښکر د پاچاهۍ تاج په سر کېږدي، مفکر د فکر بډايه خزانه ولري او هنرمن د انسان او طبيعت د پخلاينې يا نږدېوالي لپاره فوق العاده ځواک. سالک د يوه اديب په توګه د ادبي موضوعاتو د شننې پر مهال د نقل قولونو او استناد پر ځای په زغرده خپل نظر بيانوي او پرېکړه کوي، ځکه په خپله پوهه او ليد باوري دی. د ګونګه شاعرۍ مقالې په پيل کې وايي: يو شمېر خلکو ته به ګڼ شعرونه ګونګ وي په دې معنا چې د شاعر په تجربه کې به ځانونه نه شي ورګډولای. خو دا شعرونه به ګونګ نه وي، شاعر به په سمبول، استعارې، تشبيه او نورو سره خبره کړې وي، خو د لوستونکي ذهن به نه ور رسي.

وروسته په دې اړه خپل نظر داسې څرګندوي: دلته زه ګونګ شعرونه هغو شعرونو ته وايم چې د يو شمېر کسانو له خوا يې يوه معنا نه کره کېږي او ذهني انځور يې نه استعاره وي نه سمبول، نه تشبيه او نه بل څه .

**نوښت:** لفظي او معنوي نوښت د سالک د نثر بله غوره ځانګړنه ده، دی د ليکنو لپاره يا له يوې مخې نوي موضوعات غوره کوي او يا په زړو موضوعاتو کې د سپړنې نوي ليدلوري او زاويې پيدا کوي. په دويم قدم کې يې د بيان لپاره تراشلي، کره او د محتوا مناسب الفاظ پيدا کوي او په معنوي اړخ کې يې موخې او معلومات داسې اوډي چې د لوستونکي په معلوماتو کې هرومرو زيات والی راولي، که ليکوال وي د نوو موضوعاتو الهام ورکوي او قناعت يې حاصلوي.

مثلا ګونګه شاعري، شاعرانه ذوق، شعر او ښځينه احساس، د ټپې ليدلوری او نور داسې عنوانه دي چې لفظي او معنوي نوښت په کې رعايت شوی او د سرک غاړې ادبيات که څه هم زړه موضوع ده، خو زاويه يې نوې او په اوچت هنري نقد ښکلې شوې ده.

سالک له ځاځکي تر سيپۍ کتاب مقدمه کې ليکي: دلته ډېر مضمونونه د مطالعې نه، د فکر زېږنده ده. تاسې چې دا کتاب ولولئ ډېر ځله هر مضمون په خپله برخه کې يو نوی پيل دی.

**ښکلا او تناسب:** له دې وروستي ټکي څخه مطلب دا دی چې هره موضوع د بيان لپاره خپل الفاظ لري، خو کم ليکوال په دې راز پوهېږي چې د محتوا او موضوع له بدلون سره څنګه د متن په لفظي ښکلا کې هم څه ناڅه بدلون روالي او متناسبې کلمې ورته وکاروي. د مصطفی سالک په خپل نثر کې دې موضوع ته هم ښه پام کړی دی، دی د خپل اثر (له ځاځکي تر سيپۍ) په مقدمه کې ليکي: ما هڅه کړې چې د شعري تخليق کوم بڼ ته هم ننوځم اغزيو ته ډېر پام ونه کړم او يوازې له ګلونو يې يوه ګېډۍ جوړوم خو شاعران اديبان حساس خلک دي که کومه خبره يې د چا د ځور سبب ګرځي ښښنه غواړم. د جانان د خولې خبره ليکنه کې يو ځای راځي: دا شعرونه ډېر وخت خواږه وي، خو ولې؟ دا ځکه چې دا خبره د تاج محل د کيسې غوندې ده، مين خپلې معشوقې ته يو څه ښنې نو بايد ښکلي وي، کله چې شاعر د معشوقې له خوا خبره کوي، پوره هڅه کوي چې د خپل هنر کمال وښيي، ځکه کومه خبره چې ښکلې نه وي هغه کله خپل ښکلي محبوب ته منسوبوي. د لنډيو د ليدلوري په اړه ليکنه کې لاندې لنډۍ داسې تفسيروي:

زما دعا سلام پرې وايه
بيا ورته وايه ماشومان دې يادوينه

دلته په دې لنډۍ کې ښځه خپله غوښتنه په يوې طبيعي غوښتنې بدلوي او ورته وايي چې دعا سلام مې ورته وايه او دا ورته وايه چې ماشومان دې يادوي او بله دا چې ډېرى خلک دومره د بل چا په کيسه کې نه کېږي لکه د خپلو ماشومانو په کيسه کې چې کېږي. ددې لنډۍ بل تعريف هم کېدی شي، جينۍ ده په کور کې ناسته ده او خپل مين رابولي، څنګه؟ که د ليدلوري موقيعت جوت نه شي په ګرانه به ترې هغه کيسه راوځي چې ما يې يادونه وکړه. کيسه داسې ده چې جينۍ او هلک خپلوان دي. خو دا هم ورته ګرانه ښکاري چې د خپل ښېښتې حسن غرور مات کړي او ورته ووايي چې زه دې غواړم، دا ترې هم را وستی شي چې کېدی شي هلک نه يوازې جينۍ مينه وي او مينه يې هم پټه وي. ځان نه مطرح کوي، په هر حال دواړو حالتونو کې ماشومان يادوي.په پای کې ويلی شم چې ښاغلی مصطفی سالک د غوره نثر ليکنې لپاره هم کره او روانه ژبه لري او هم ناويلي موضوعات او سوژې چې له برکته يې نثر لوستونکی روزي او ژبه يې د خپل ظاهري جذابيت له امله د يوه ښکلي داستان په څېر تر پايه له ځان سره ساتي. بس وروستۍ خبره يې دا چې پښتو ادب دې بې سالکه نه شي. / پای

# ډرامه څنګه...؟

روښانيږي او هرڅه مشخص کېږي، ټولې غوټې پرانستل کېږي، ليدونکي د خپلو پوښتنو ځواب مومي او د هېڅ ډول شک او ابهام ځای نه پاتې کېږي.

**د ډرامې د تر سره کېدو ډولونه:** له لويه سره ډرامې په دوه ډوله ترسره کېږي: ستېژ ډرامه او راډيويي ډرامه.

ستېژ ډرامه؛ د ستېژ پر مخ اجراء کېږي او د کرکټرونو د ظاهري او دروني حالاتو څرګندونه په کې ډېر مهم دي.

**راډيويي ډرامه:** په دې ډول ډرامو کې غږ ډېر مهم دی او کرکټر د خپل غږ په وسيله خپل ټول حالات راته بيانوي.

راډيويي ډرامه د غږونو او موسيقۍ په وسيله د يوې واقعي يا خيالي کيسې بيانول دي، دغه ډرامې هغه وخت په زړونو چنګ لګوي، چې:

د کيسې موضوع يې په زړه پورې وي.
اوريدونکی يې د طبيعي والي احساس وکړي.
هدف او غرض يې مشخص وي.
اصول په کې مراعت شوي وي.
کيسه يې نبايد ډېره اوږده او ستړې کوونکې وي او نه هم له طبيعي حالته کمه وي.

پر دې سربېره د دې لپاره چې ممکن د راډيويي ډرامې زيات اورېدونکي عام او بې سواده خلک وي؛ ډرامه ليکونکي او کره کتونکي، د هغه د متن پر ساده والي زيات ټينګار کوي، ځکه دوی هماغه شېبه يوازې يو ځل هغه اوري. همدارنګه دا سپارښتنه هم کېږي چې د ډرامې لوبغاړي بايد کم په نظر ونيول شي، ځکه اورېدونکي زيات لوبغاړي په ياد کې نه شي ساتلای.

رالف ميلتون که څه هم په راډيو کې د غږونو رول ډېر مهم بولي، خو وايي چې د ډرامې هنر تر هغه ډېر مهم دی.

د هغه په وينا، هر غږ بايد د کيسې د ښه بيان لپاره له موږ سره مرسته وکړي.

دی وايي چې په راډيويي ډرامه کې غږونه بېلابېل ډولونه لري؛ لکه د انسان، حيوان، وسايلو(تبر، کلنګ،بېل، موټر) او نور.

په راډيويي ډرامو کې معمولا له دريوو وسيلو نه کار اخستل کېږي: غږ، افکټ او موسيقي، خو غوره دا ګڼل کېږي چې له دې درې واړو په يو وخت او ښه استفاده وشي.

ميلتون وايي؛ چې ځينې وخت د موسيقي او تر غږ لاندې موسيقي په اسانه د کلمو په پرتله صحنې ښه مجسموي، په تېره بيا د خوښۍ او خپګان د ښکاره کولو په وخت کې.

**افکټ:**افکټ د صحنې په انځورولو کې مرسته کوي، په ساده ژبه افکټ د موقعيت په پېژندلو او احساسولو کې ډېر مهم نقش لري. له لويه سره افکټونه په دوه ډوله دي: اشنا او نااشنا افکټونه؛ اشنا هغه يې د موټر او اس غږونه دي.

نااشنا افکټونه هغه دي، چې تر ډېره هرچا ته د احساس وړ نه وي، د دې لپاره په کار ده، چې د نااشنا افکټ په اړه په ډيالوګ کې له مخکې نه معلومات ورکړل شي، مثلا: د سيند غږ، د اوروژنې غږ او نور.

دلته دوه کرکټرونه په نظر کې نيسو، يو ځای کې اور لګيدلی، لومړی هغه دويم کرکټر ته وايي: هغه لوګي ګوري، اوهو اور وار له واره لمبې کوي. دلته بايد د دوی له هرې مکالمې سره بايد د اور لګيدو د افکټ غږ کرار کرار اوچت شي.

**موسيقيت**:د ميلتون په خبره، موسيقيت ډرامه په حرکت روالي، يعنې هم يې وحشتناکه او هم يې حساسه او لطيفه کولای شي، نو بايد دا په نظر کې ونيول شي چې د ډرامې موسيقيت اورېدونکي ته څه ډول احساس ورکوي؟ تر ډېره چې ليدل شوي، خلک خپله دوديزه (م . ي) غږونه ډېر خوښوي او احساسات يې ښه راپاروي، دا ډول (م . ي) له اورېدونکي سره د ښه ارتباط ټينګولو غوره لار ده.

**کرکټر:** کره کتونکي په راډيويي ډرامو کې پر کرکټر کښنې ډېر ټينګار کوي او وايي چې په راډيويي ډرامه کې کرکټر کښنه پر فزيکي، ټولنيزو، فرهنګي او رواني ځانګړنو ولاړه ده.

په فزيکي ځانګړنه کې عمر، جنس، ښکلا، بدرنګي راځي؛ په ټولنيزه ځانګړنه کې، چې په ټولنه کې د ډرامې د اتل موقعيت او اړخونه توضيح کوي، د هغه د مالي، اداري، معنوي او سياسي قدرت انځورېږي؛ په فرهنګي ځانګړنه کې د ملي فرهنګ يا د نظر وړ فرهنګونو د يوې برخې ځانګړتيا رابرسېره کېږي او په رواني ځانګړنه کې چې تر ټولو پېچلې برخه ګڼل کېږي، د کرکټر دروني حالات را اخستل کېږي او په ډرامه کې د کرکټر ځانګړنې نبايد يوازې د هغه پر ظاهري خصوصياتو متکي وي، بلکې په کار ده چې د هغه دروني خصوصيات هم را واخستل شي، ځکه دروني خصوصيات تر ظاهري هغه له ډراماتيکو امکاناتو او اړخونو ډېر برخمن دی.

که چېرته دغه ځانګړنې په اساسي ډول په ډرامه کې مراعات شي، له اورېدونکي سره دا مرسته کوي چې هغه کرکټر په خپل ذهن کې انځور کړي او ورسره د نابلدۍ احساس ونه کړي.

په مناسب وخت او فرصت کې بايد د لوبغاړو نوم واخستل شي، په تېره بيا هغه وخت چې يو نوی کرکټر صحنې ته راځي.

د صحنې انځوروونه بايد د ډيالوګونو په وسيله وشي او يا هم د نطاق له خوا په دوو کرښو کې وښودل شي.

مثلا دوه کسه سره خبرې کوي، حال دا چې درېيم کس هم په هغه ځای کې حضور لري نو د دې لپاره بايد لومړي دوه کسان د درېيم په اړه يو څه ووايي چې اورېدونکی مخکې له مخکې پوه وي او په يو دم راڅرګندېدو يې تعجب ونه کړي.

شخصيتونه بايد د خپلو ډيالوګونو له مخې معرفي شي او ترپايه پورې وساتل شي، مثلا يو بې عقله او يا جدي او پوه سړی. دا په اصل کې شخصيت پنځونه ده چې ډرامه ليکونکی يې د خپلې ډرامې کرکټرونو ته ورکوي.

دا چې په راډيويي ډرامو کې کرکټرونه نه ليدل کېږي په هر مناسب فرصت کې بايد نومونه يې واخستل شي. په تېره د صحنې د بدلېدو په وخت کې.

د راډيويي ډرامې اورېدونکي لوبغاړي نه شي ليدای، بلکه هغوی له غږ او نومونو څخه پېژني. د دې لپاره په کار دا ده، چې ليکوال بايد د خپل داستان د شخصيتونو لپاره له رول او عمر سره سم او مناسب نومونه غوره کړي.

پر ستېژ ډرامه بيا غږېږو.

د جوړښت له مخې ډرامې په اووه ډوله وېشل شوي دي.

۱.کمېډي ډرامه: هغه ډرامې دي چې د داستان موضوع يې خندوونکې او خوشالوونکې وي.

۲.ډرام: که د ډرامې د داستان موضوع داسې وي، چې کرکټرونه په کې د واقعي ژوند انځور وړاندې کړي، هغه ته ډرام ويل کېږي.

۳.ملو ډرام: کېدای شي ډرام د کمېډي خواږه او اساس هم ولري چې په دې ډول هغه ملو ډرام بلل کېږي، کله بيا دغه مساله د ډرامې د ښه پای په توګه رغښت مومي.

۴.تراژيدي: که چېرته ډرامه ډېرې غم لړلې پېښې لکه: د پلار، ورور، زوی او... مرګ ننداره ته وړاندې کړي؛ د تراژيکو ډرامو په لړ کې راځي.

۵.طنز: کله کله کمېدي ډرامې د پيام لېږدونکې هم وي، چې امکان لري تريخ يا نېښ وهونکی وي؛ دغه ډرامې طنز دي.

٦.هجو: که چېرې ډرامې د کمېدي او طنز د حالاتو په بيان کې د افرادو او يا موضوعاتو د مسخره کولو په دام کې ولوېږي، دا ډول ډرامې د هجو ډرامو په ډله کې حسابېږي.

۷.لغو(بېهوده خبره): طنز او هجوي ډرامې، چې په بې بندوباره ډول کورني او غير اخلاقي مسايل مطرح کړي، د لغو ډرامو په ډله کې راځي./ پای

# زېری

علمي، څېړنيزه او ادبي پښتو ورځنۍ جريده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**د افغانستان د علومو اکاډمي**
**د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان**

**مسئول مدیر:** څېړندوی لطف الله صابر

**مهتممه:** بي بي شفیقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

**د اړیکې شمېره:** ۷۷۷۴۲۴۳۴۰ (+۹۳)

**برېښنالیک:** zerai۱۳۱٦@gmail.com

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ

**د ۱۴۰۱ ل.کال، د وري میاشتې ۹- ۱۲ مه ګڼه | پرله پسې ۴۰۰- ۴۰۴ مه ګڼه**


## ډاکټر اکبر
## د پښتني فکر ...

پورته شه له خپلو خاورو خپله دنیا جوړه کړه
ساه د اسرافیل دې شوم او چغه د محشــر مې کړې
وړم د سالو دې شه له ولو دې سر پورته کړه
لاس د پسرلو دې شوم، د شنو کشمالو کـر مې کړې
څو په اخوا اوړو د مهال له دېوالونو نه
غېږه راته پرانېـــزه د خپلـــې چنې ور مـــې کـــړې

په پورته شعر کې په لویه کې د خپل ولس درد انځور شوی او د خپل قام په ناپوهۍ او نادانۍ اوښکې توی شوي او هم یې د خپل انساني ارزښت له مخې د نړۍ د لوړو ژور سره د برابرۍ لارښونه کړې ده او بیا یې د ښه ژوند سره د تعقل غوښتنه هم کړې.نوي سمبولونه او نادر تشبیهات د ډاکټر اکبر د شعر یوه بله ځانګړنه ده، د خپل قامي ویاړ ترخنګ، د خپل هېواد د نوښتونو ارماني دی، خو بیا هم په پوښلي ډول وایي چې زه د نړۍ په قامونو کې د لوړ انساني ځانګړتیا لرونکی او هسک سر د ستورو په رڼاګانو کې کروندې کوم.

مـــا درته نه ویل
چې ورځ زمـــا ده
او لـــمر زمـــا دی
ځمـــکه زما ده
او پر مخ د ځمکې
دا کـــــر زما دی

****

مــــــا درته نه ویل!
چې هسک نېژدې دی
ورتـــه ور رســـــــو
او ســـــتوري څه دي؟
څو ســـــتا د سترګو
د کیـــــسو څــــل ته
په غــــتو غــــــتو
ســـــترګو کاته دي..

په دې شعر کې یې تر پایه د پښتني ژوند اسطوريي انځور او د اسمان کنارو ته د لاسرسي تصور انځورکړی، خو په دې شرط چې قام یې له پخوانو روایاتو را ووځي او د نوي ژوند پر پلونو پل کېږدي.دی د انساني ژوند د شرایطو بیان په خوږه ژبه کوي، د جانان د خواږه ټکي یادونه د هنر په تول د لوړې عاطفې پرمټ بیانوي:

زمونږ فکرونه د جانان فکرونه
زمونـږ خبرې د جانان خبرې

رحمت شاه سایل که د زخمونو له وینو څراغونه جوړوي نو ډاکټر اکبر یې د جهل په تول تلي او د هر انسان زخم د مینې په ورشو ویاړمن نه بولي، بلکې دا ورته بې رڼا څراغونه وايي:

دا زخمونه دا بې نوره څراغونه
دا له طوره تشې سمڅې ساړه غرونه
د خمــــانو په کودو کې ماتې ټنډې
دا دکانو په ورغــوو کې جامـونه
نه مو زر د اباسین له شګو ټول کړل
نه یې راوړل اباکنو له ټیکـــــــونه
د ثواب او د عـــذاب دکانداري ده
ایمانــــــونه د هندوانو دوکانونه

سمبولونه د ذهني انځورګرۍ ماهیت په ډاګه کوي، په شعر کې دسمبولونو کارونه د شعر ښکلا، ظرافت، معنوي ارزښت او په ذهن کې د خیال حرکت پراخوي، چې په دې سره د شعر معنوي ارزښت څوچنده کېږي. د طورغره تشې سمڅې، په کودو کې ماتې ټنډې، د کانو جوړ ورغوی، د هندوانو دوکانونه یې د سیمه ییزو او خاصو موضوعي اصطلاحګانو او نویو سمبولونو په توګه یادولی شو او تر ډېره د نورو په شاعرۍ کې دا ډول ځانګړنه، نه لیدل کېږي.خو د هیلې بخښنې په توګه، چې هم انساني کرامت ستایي او هم د پښتون قام د لاشعوره مینې تول په پخو کاڼو کوي.

د ډاکټر اکبر کلام په هره کرښه کې پښتون قام ته ساه بخښونکی او په رواني لحاظ د خپل راتلونکي ډېر ښه تصویر ور کوونکی دی، هر څوک او د هر ذوق څښتن په کې ځان له ورایه لیدی شي، د شعر فلسفه یې هم څرګنده ده، په ډېر ظریف هنر د ژوند لویو تشو ته نغوته کوي او دغه چارې ته په معنوي پلوه د حل لار هم پلټي.

د ده شعر د ژوند د خوندونو استازولي کوي، د ژوند ترخه هم یادوي خو د حوس مینانو ته د ژوند ژورې هم بیانوي، لوستونکي ته د ژوند په چارو کې د انساني ژوند د پېټي د وړلو لار ورښایي او د بشري ارزښتونو د مرستې ګودر هم په ګوته کوي.د بېوزلو استازولي هم کوي، د غمونو او ناهیلیو د ژوند غندنه کوي، د پښتني ساده باده جونګړو انځورګري یې په لوړ شان کړې، خو د پښتني ملګرتیا او امید څراغونه هم روښانه کوي.

دا چې د غم توره شپه سره د زړه له داغه ده
لړه له تیارو ده، اشنا ډېره له څـــــراغه ده
مـــــونږ د وچـــو پاڼو د ورغو پرخې پېژنو
اوښکه د دې ګلو په لېمو کې له دې باغه ده

شعر یې د واقعیت پر بنسټ ولاړ، د خپل قام تورتم فکرونه غندي او د فکر تجاهل په تیارو کې د روښانه ژوند د تېرولو هنر هم ورته زده کوي.د شعر په تیورۍ کې دا مهم اصل دی چې ښه شعر هغه ته ویل کېږي چې د خیال پیاوړې ځواک په کې څرګند شوی وي، احساس او عاطفه په کې داسې ځای شوي وي چې انساني ذهن ته د زړه راښکون ترخنګ ځانګړی خوند او سکون ور وبخښي. د ډاکټر اکبر د شاعرۍ عام ذهنیت دا دی چې پښتون قام د ژوند له نویزونو سره بلد او له زاړه روایته لاس را وباسي، د نوي عصر له غوښتنو سره اشنا شي او د ناهیلیو پېټۍ له اوږو وغورځوي.د عام ذهن تصور دا دی چې پښتانه فکر کوي چې موږ د نورې نړۍ نه وروسته پاتې قام یوو او د هغوی د ژوند پوړیو ته ځان نشو رسولی، خو ډاکټر اکبر دا عام ذهنیت ورته په یوه لوړه او شونې هېله بدل کړی او کوښښ کوي چې د خپل قام دا بې معنا عام ذهنیت په حقیقت واړوي او لکه د نړۍ نور پرمختللي قامونو یې را وېښ کړي.

که په عـدل د خپل ځان واکمني وکـړې
دا ولس به د جهــــــان واکمني وکــــړي
د انسان او خدای په مینه یې سمبال کړئ
چې د ځمکې او اسمان واکمني وکــــړي
د دوی میـنې د عقــل کـورښي شـــــي
په دې زړونو دې پوهان واکمني وکــــړي
په ازغـــو شه د بېلـــتون لمـــنې ډکې
په ګلـــــونو دې یاران واکمـــني وکــړي
واک یې مه شه د مغــــــــلو د لاسونو
څوک افغــــان دې په افغان واکمني وکړي

د ډاکټر اکبر فکر د بلې ټولنې تر اغیز لاندې نه دی راغلی، بلکې د خپلې ټولنې د سوچه کلتور استازولي کوي، د فکر روح یې پښتني او ان دومره روایات پالي دی، چې تر اوسه په پښتني کټورې او ګړې(منګي) ویاړي، همدا وجه ده چې د شعر عام ډګر یې لوستونکي ته یو پښتني چاپېریال ور په زړه کوي، شعري انځورونه یې هم د پښتني فکر او شکر پارو ډک دي.ډاکټر اکبر د ښې شاعرۍ صلاحیت لرونکی دی او هر ډول نادوده په ژور فکر په لوړ جرأت او فطري ښه بیانوي، څه چې وایي په ټولنیز سبک یې پوره وایي.موسیقیت د ده د شعر یوه بله ځانګړنه ده، هر شعر یې په اهنګ او وزن برابر دی، وزن د کلمو ترمنځ د احساس او عواطفو تړون دی چې په انساني پلوه عواطف د انسان په زړه اغېز ښندي، وزن په یوه شعر کې د لفظونو ترمنځ غرېز نظم او یوالی راولي. په وزن او اهنګ سره شاعر د خپل کلام فکر، احساس، عاطف او د زړه حرکات او غوښتنې په عالي ډول لېږدوي، نو څکه وایوو، چې وزن او اهنګ په شعر کې موسیقیت پیدا کوي. د پورته ښېګڼې تر څنګ د ډاکټر اکبر د شعر بل ښه اړخ دا دی چې د خپل فکري او ذهني تصور د لېږد لپاره وړ او مناسبې کلمې پیدا کوي.موږ ډېر ځل شعرونه اورو چې خوند را کوي خو هېڅکله فکر نه راکوي، زما په باور ښه شعر هغه دی چې هم خوندور وي او هم د فکر لېږدونکي وي.

مونږ د عشق د لېونتوب په کور کې اوسو
په یوه خیال د منیتوب په کـور کې اوسو
د ســبا په راخــــتو کــې یې تعــــبیر دی
لا د داسې یوه خـــوب په کور کې اوسو
مونږ د لـــمر د ځلمیتوب مېلمنې ورځې
د سپوږمۍ د پېغلتوب په کور کې اوسو

د شعر ژبه یې طبیعي او خپله ده، محتوایې له شکل او شکل یې تر محتوا عالي دی، عیني واقیعتونو ته ډېر تم کېږي او اکثره شکلونه یې محسوس دي، د فلسفي افکارو پر لور هم ګام ږدي خو دا برخه یې هم ډېره ژوره څکه نه ده چې د ده د فکر فلسفه د قامي پرمختګ د یو ارمان په ډول راوړل شوې.له عقله لوړې کلمې نه بیانوي، ساده توري په یو نوي رنګ د شعر په خُم کې دننه کوي او د پښتني روایت په خوږو یې ټولنې ته وړاندې کوي، پیغام یې وېښونکی او خپل قام د خپل اصل ژورو ته کېباسي.

په هر ډول که د ډاکټر اکبر اکبر شعرونه وپلټو نو د ژوند له هر ډول رنګینو خیالونو ډک دي او د خپلې ټولنې درد یې په کې انځور کړی، ما ترې د بېلګې په ډول یو څه یادونه وکړه، په دې هېله چې د ده د عالي شعر حق مې ادا کړی وي. زه د نوي نسل له کهوله دا هیله لرم چې د خپلې ښې راتلونکې په هیله د ډاکټر اکبر شعرونه ولولي او د خپل قام د بریا څرکونه په کې ومومي.


**مأخذونه**

**۱. ډاکټر محمد اکبر اکبر. اتلې هیلې،۱۴۰۱لمریز ـ سلواغه، ۸۱مخ**

**۳. اباکڼ، د کوزې پښتونخوا په دیر سیمه کې د یو ځای نوم دی.**


**پای**

## شهد رحیمي

## د ماشومانو ادبیاتو ته د محمد اعظم عبیدي ورکړه

**محمد اعظم عبیدي پېژندنه**

محمد اعظم عبیدي د قاضي عبیدالله زوی چې په ۱۳۰٦ ل کال په کابل کې زېږېدلی دی، اصلآ د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ د باغبانانو د کلي اوسېدونکی دی، لومړنۍ زد کړې یې د بالاباغ په ښوونځي کې تر څلورم ټولګي پورې ترلاسه کړې دي، د نورو زد کړو لپاره د کابل ولایت په حبیبیه لېسه کې داخل شو. د حبیبې لېسې له فراغت وروسته یې نورې زده کړې د کابل په دارالمعلمین کې سرته ورسولې.

محمد اعظم عبیدي په ۱۳۲۹ ل کال د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي کې شامل او په ۱۳۳۳ ل کال کې د پښتو او دري ژبې له څانګې څخه فارغ شو. له فراغت وروسته یې لومړی په حبیبیه لېسه کې د ښوونکي په توګه وګمارل شو، له څه وخت وروسته استقلال لېسې ته تبدیل شو، کله چې یې شهزداه نادر په خپل مضمون کې ناکام کړ نو د وخت حاکم استاد محمد اعظم عبیدي له استقلال ښوونځي څخه ملي موزیم ته تبدیل کړل شو. دا چې استاد محمد اعظم عبیدي په وطن مین سړی و نو په ملي موزیم کې یې هم ډېر وخت تېر نشو کړای، هلته یې د ایټالوي او فرانسوي لرغون پېژندونکو غلا روښانه کړه چې وروسته بیا د ملي موزیم اداري له دندې لرې کړ.په ۱۳۳۸ ل کال کې بیا د کندهار دارالمعلمین کې د استاد په توګه مقرر شو، له هغه ځایه بېرته د کابل دارالمعلمین ښوونځي د مرستیال په حیث را تبدیل شو، چې وروسته بیا د همدې مکتب مدیر وګمارل شو.

محمد اعظم عبیدي په (۱۳۴۵ل) کال د ښوونې او روزنې په اداري او نظارت په برخه کې دنیوپارک د کولمبیا له پوهنتون څخه د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ او په (۱۳۵۱ل) کال یې له نوموړي پوهنتون د ښوونې او روزنې تحقیق څانګه کې خپل تخصص واخیست.

استاد عبیدي په کابل پوهنتون کې د زد کړې په مهال داستان لیکنې ته مخه کړه او په همدې مهال د ده لنډ داستانونه په مجلو او ورځپاڼو کې خپاره شول. په دېرشمو او څلوېښتمو لسیزو کې یې د لوستونکو له خوا د لنډو داستانونو هرکلی وشو ، چې له امله یې څو سوه داستانونه په رسنیو کې خپاره شول.

په راډیو افغانستان کې استاد عبیدي د ماشومانو د خپرونو له پیل سره یو ځای د دغو پروګرامونو لپاره په سل ګونو افساني او معلوماتي لیکنې ولیکلې ، لیکن د( ۱۳۵۷ل) کال دغویې تر کودتا وروسته یې خپلې اړیکې له راډیو او تلویزیون سره وشلولې .

استاد عبیدي د (۱۳۸۷ل) کال د مرغومي په لسمه نېټه (د ۲۰۰۸ع کال د نومبر په دېرشمه نېټه) د یکشنبې په ورځ د ورپېښې ناروغۍ له امله د جرمني په مونشنګلادباخ ښار کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې؛ دا چې د محمد اعظم عبیدي له خپل پلارني ټاټوبي افغانستان سره ډېره مینه وه خو بیا هم د ځینو مشکلاتو له امله یې جنازه په همدغه ښار کې خاورو ته وسپارل شوه.

**د ماشومانو ادبیات**

ماشومان د ټولنې یوه مهمه برخه ده، که چېرې په یوه ټولنه کې ماشومان ښه وروزل شي هغه ټولنه نېکمرغه کېږي. د ماشومانو په روزلو کې ادبیات مهمه ونډه لري، د ادبیاتو په وسیله ماشومان سالم او ذهین تربیه کېږي.

جهان عالم په خپل اثر کې لیکي:"ماشومان د یوې ټولنې د اهمو بنیادي عناصرو څخه دي. د ماشومانو عادتونه ، خصلتونه او احساسات د معاشرې د مستقبل د ماڼۍ ابتدایي خښتې وي څکه هېڅ یوه حساسه ټولنه د ماشومانو د احتیاجاتو، غوښتنو او خواهشاتو څخه سترګې نهٔ شي پټولی.

استاد بیت الرحمن رودوال د خپلې دکتوار په تیزس کې د ماشومانو ادبیاتو ته داسې کتنه کړې ده:( د محمود طرزي له ډېرو نورو نوښتونو سره سره یو نوښت دا و چې د لومړي ځل لپاره یې ماشومانو ته د سراج الاطفال خپرونې پیل کړې، دغه جریده به له سراج الاخبار سره یو ځای په ۱۵ ورځو کې خپرېدله په دې جریده کې به ډېرو ماشومانو ته ممد درسي اثار، په زړه پورې تفریحي او خوندور مطالب خپرېدل. له دې وروسته طلوع افغان جریده په ۱۳۰۰ ل کال کې د مولوي صالح محمد هوتک په مدیریت په خپرونو پیل وکړ، دې جریدې تر ۱۳۰۹ ل کال پورې په دري او پښتو ژبو خپرونې کولې خو له ۱۳۰۹ ل کال وروسته یې ټولې خپرونې په پښتو ژبه شوي دي.

د شلمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې محمد اعظم عبیدي یو له هغو لیکوالو څخه و، چې د لومړي ځل لپاره یې د افغانستان ملي راډیو ته د ماشومانو یوې خپرونې لپاره دماشومانو داستانونه ولیکل. زما په اند په پښتو ادبیاتو کې د کوچنیانو لپاره د داستان لیکلو هنر له همدې ځای څخه شروع شو.

د محمد اعظم عبیدي پښتو داستانونه ټول د ملي راډیو تلویزیون د ماشومانو خپرونې لپاره لیکلي دي. داستانونه یې په ساده ژبه لیکلي، چې د ټولنې هر قسم وګړي ترې ګټه واخلي. جملې یې ساده او له معنی ډکې استعمال کړې دي.

محمد اعظم عبیدي په پښتو ادب کې د کیسې په فورم کې ډېر څه پښتنې ټولنې ته وړاندې کړي دي. د افغانستان جغرافیې ته په کتلو سره ویلی شو چې دا سیمه ډېر وخت د پردیو یرغلګرو له خوا د جنګونو مرکز ګرځېدلی دی، دې جنګونو نه یواځې دا چې یو ثابت نظام یې په خپل ځای نه دی پرېښی بلکې پښتو ادب ته یې هم ډېر زیان رسولی دی. د پښتو ژبې ډېر کتابونه او مواد د همدغو جنګونو په اورونو کې سوزېدلي دي. د محمد اعظم عبیدي داستانونو لیکلی متن هم د کورنیو جګړو په اور کې وریت شوی دی. د محمد اعظم عبیدي د پښتو ژبې داستانونه د افغانستان ملي راډیو تلویزیون په ارشیف کې په غرېزه ښه ساتل شوي. ما د دغو داستانونو متن د پنځوو کیسټونو له صوت څخه لیکلي دي. د استاد عبیدي د لیکل شوو داستانونو متن په لاندې ډول دی

**پوستین ګنډونکی**

یو پوستین ګنډونکی و، چې په یوه کلا کې یې ژوند کاوه او د پوستین ګنډلو دوکان یې هم په همدې کلا کې و. هر وخت به یې دغه دوکان ته د غوایانو او پسونو پوستکي راوړل او هلته به یې اېښودل. یوه ورځ یوه ګیدړه د دغه کلا پر څنګ تېره سوه او د پوستکو بوی یې پزې ته ورغی یوه سوه چې په دې کلا کې یو څه خوراکي شیان سته. ګیدړې ولیدل چې د کلا دروازه تړلې ده او دېوالونه یې هم ډېر لوړ دي او یوه موری ده چې د هغې موری له لارې کلا ته ور ننوته او دوکان یې په بوی کښلو سره پیدا کړ. ګیدړې په دوکان کې څو ټوټې پوستکي وخیړل او ویې لیدل چې غوښه نه لري؛ نو بېرته په هماغه لاره چې راغلې وه له کلا څخه راووتله. څو ورځې وروسته ګیدړې ته بیا د پوستکو هوا ورغله او په زړه کې یې راوګرځېدل او بیا ورته راغله! څو ټوټې پوستکي یې بیا و څیرل او ویې خوړل. ګیدړه څو شپې دغه ځای ته راتله په پای کې د دوکان خاوند یعنې پوستین ګنډونکی پوه شو چې دغه کار د ګیدړې دی او له دې کبله چې بله لاره نه وه پوه سو چې د موری له لارې راځي. نو یوه شپه یې په خپل ځای کې خوب حرام کړ او تر سبا پورې د موری خوا ته کښیناست، سباوون و چې ګیدړه له همدې لارې کلا ته ورننوته او مخامخ دوکان ته ولاړه. پوستین ګنډونکي د موری په خوله کې یوه ډېره کېښوده او هغه یې پټ کړ او د دوکان خوا ته روان شو. ګیدړه په همدې وخت کې له دوکان څخه راووتله، کله یې چې ولیده پوستین ګنډونکي ته کوتک په لاس ورغی، نو د کلا دروازې خوا ته یې منډه کړه، ویې لیدل، چې دروازه تړلې ده د موری خواته یې منډه کړه؛ هغه هم ولیدل چې د موری خوله هم تړل شوې ده. په همدې وخت کې د پوستین ګنډونکي کوتک د ګیدړې په ککرۍ ولګېد سرګوندۍ یې ووهلې؛ ګیدړې له ځان سره فکر وکړ، که چېرې شور وخوري نو د کلا سپی به وربانديې خبر شي. د تېښتې لار هم نشته، نو ښه دا ده چې ځان مړ واچوم.څو چې لمر راخېږي او د کلا دروازه خلاصوي همداسې به ځان مړ واچوم. پوستین ګنډونکي ولیدل چې وار یې پوخ لګېدلی دی. ګیدړه یې په خپل ځای پرېښوده او په خپل کار پسې روان شو. شپه کرار کرار رڼا کېده او خلک له خپلو کورونو څخه راووتل. ځینو به ګیدړه لیدله او ور څخه تېرېدل. یو سړی راغی او ګیدړه یې یو لغته ووهله؛ هلکانو به ګیدړه یوې خوا او بلې خوا ته کشوله په همدې وخت کې پوستین ګنډونکی راغی او غوښتل یې چې د کلا دروازه خلا صه کړي، کله یې چې ګیدړه ولیده ورته رانیږدې شو او ویې ویل: مونږ یو فالبین څخه اورېدلي دي؛ څوک چې د ګیدړې وړۍ وسوزوي کوډې بدلېږي؛ نو خپل چاقو یې له جیب څخه راوکیښ او له ګیدړې څخه یې یو څه وړۍ پرې کړې او لاړ چې د کلا دروازه خلاصه کړي.

یو بل سړی چې هلته ولاړ و وویلې: دا خبرې ما هم اورېدلي دي مګر دا ټولې غلطې دي، د ګیدړې وړۍ له کوډو سره څه اړه لري؟

ګیدړې چې خپل ځان مړ اچولی و، په زړه کې وویل خیر دی که څه وړۍ یې راڅخه غوڅې کړې خیر دی. په دې کې یوه بوډۍ ښځه راغله او ویې ویل : په تېرو زمانو کې ویل کېدل چې د ګیدړې غاښونه که له یو چا سره وي له سپي څخه به نه ډارېږي، نو د ګیدړې یو غاښ یې وکیښ.دا چې د ګیدړې غاښ ډېر خوږېده له ځان سره یې وویل عجب! عجب خلک دي زه چې شپاړلس غاښونه لرم هم له سپي څخه ډارېږم.

یو بل سړی راغی او د ګیدړې غوږونه یې ور څخه غوڅ کړل. ګیدړې که څه هم نږدې وه چې له ډېره درده یې نارې وکړې بیا یې له ځان سره وویل: ښه داده چې غلې واوسم. په دې وخت کې یو بل سړی راغی او د ګیدړې په لیدلو خوشحال شو او ویې ویل: زموږ په ښار کې خلک وایي که چېرې څوک په خپلو جامو کې د ګیدړې لکۍ و ګنډي کولای شي چې د هر چا په راتلونکي پوه شي او اټکل وکړي، بیا یې یوه لویه چاړه له جیب څخه راووېسته او ګیدړې ته ورنیږدې شو. ګیدړې چې ولیدل اوس یې نو چاړه نشته لکۍ هم راڅخه غوڅوي نو ښه داده چې وتښتم، که چیرې یې ونیولم تر دې به مې زیاته په عذاب کړي. کله چې هغه سړي چاړه په لاس ګیدړې ته رانیږدې شو. ګیدړې یو ځل په ناڅاپي ډول ټوپ کړل او خلکو له منځ څخه وتښتېدله د کلا دروازې څخه ووته.


**مأخذونه**

۱ - جهان عالم، د پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټۍ د علمي او تدویني خدماتو تنقیدي مطالعه، تحقیقي مقاله ، کال:۲۰۱٦،مخ:۲۳۸.

۲ - رودوال، بیت الرحمن، په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادبیاتو تجزیاتي او تنقیدي مطالعه، د پي ایچ ډي تحقیقي مقاله، مخ: ۱۵۳ ، پښتو اکیډیمي پېښور پوهنتون (ناچاپ).

**۳ - ملي راډیو تلویزیون ارشیف د ( ۱۳۴۸ـ۱۳۵۰ هـ.ش) کال د (۵) دقیقه یي داستانونو کیسټې، نمبر۱ .**


**پای**